
روادارى
RAWADARI

# په افغانســـتان کی ۲۰۲۴ کال پـه لومړیو شپږو میاشو کې د بـــشر حقونو وضعیت

آگست ۲۰۲۴



رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونې، او د قرباني محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پریتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د پیښې، څرنگه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولۍ خپروي.

# د مطالبو لړلیک


سریزه ۱

د معلوماتو د راټولولو تګلاره ۲

---

**اول برخه – د مدني او سیاسي حقونو وضعیت ۳**

**د ژوند د حق نقض ٤**

د هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونوله امله پېښنه شوې ملکي مرګ ژوبله ٥

د ماینونو او د جګړې د پاتې شونو له امله رامنځته شوې مرګ ژوبله ٦

هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۷

د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو عاملان ۷

د مخکني حکومت د کارکوونکو هدفي وژنې ۸

له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ملکي خلکو وژنې ۹

د نورو ملکي هیوادوالو له محاکمې پرته مرموزې وژنې ۱۰

**جبري تري تم کول ۱۱**

**خپلسرې او غیرقانوني نیونې ۱۲**

د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسرې نیونې او ځورونې ۱۳

د مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعینو خپلسرې نیونې ۱۵

د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د خلکو خپلسرې نیونې ۱٦

نورې خپلسرې او غیر قانوني نیونې ۱۷

**د انساني کرامت د حق نقض ۱۸**

**د بندیانو شکنجه کول او ورسره ناوړه چلند ۱۸**

د بندیانو وژنه ۱۹

د طالبانو له زندانونو څخه د څارنې د میکانیزم نشتوالی ۱۹

**د ظالمانه او غیر انساني سزاګانو پلې کول ۲۱**

**د سوله ییزو راټولېدنو ځپل ۲۲**

**دويمه برخه- د ښځو د بشري حقونو وضعيت** ۲۳
د زده کړو پر حق د محدوديتونو سختول ۲٤
د کار له حق څخه د محروميت دوام ۲۵
روغتيايي خدمتونو ته محدود لاسرسی ۲٦
د آزادانه تګ راتګ د حق نقض ۲۷
عدالت ته د لاسرسي نشتوالی ۲۸

**درېيمه برخه- د متضررېدونکو قومي او مذهبي ډلو وضعيت** ۳۰
د دولتي خدماتو په وړاندې کولو کې قومي او مذهبي ډلو سره توپيري چلند ۳۱
په ګمارنه کې توپيري چلند ۳۲
پر مذهبي آزاديو د محدوديت لګول ۳۳
د مذهب بدلولو ته د اسماعيليه شيعيانو اړيستل او د حنفي فقهې ښوونه ۳٤

**څلورمه برخه- پايله او وړانديزونه** ۳۵
پايله ۳٦
وړانديزونه ۳٦



انځور: سهراب عمر



# سریزه

په افغانستان کې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د انفجاري او ځانمرگو بریدونو د کموالي له امله د ژوند د حق د نقض د پېښو له کموالي سره هم مهاله، د اجباري تري تم کولو، په شکنجه کې د وژلو، د خپلسرو نیولو او بندیانولو او د ظالمانه او غیر انساني سزاګانو ورکولو په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. خپلسري نیونې دوه چنده او اجباري تري تم کول د ۲۰۲۳ کال د همدې مودې په پرتله درې چنده زیات شوي دي. د بشر حقونو اصولو او میکانیزمونو ته د بالقوه حاکمانو په توګه د طالبانو د التزام او ژمنتیا نشتوالی، د ملاتړیزو میکانیزمونو نشتوالی او په پایله کې د مجازاتو او حقوقي تعقیب څخه د مصئونیت دوام، په دې زماني موده کې د وضعیت د لا خرابېدو او د بشر حقونو د نقض د بېلابېلو بڼو د زیاتوالي ښکاره لاملونه ګڼل کیږي.

**د ترلاسه شویو شواهدو پر بنسټ، د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي، مدني فعالان، خبریالان، د بشر حقونو مدافعین او مخالفین او منتقدین لا هم د حاکمې ډلې د تاوتریخوالیزو او غچ اخستونکو بېلابېلو ډول بریدونو سره مخامخ دي، چې په دې کې د طالبانو د تبعیضي او سختو سیاستونو د لا سختېدو له امله د ښځو او نجونو د بشري حقونو وضعیت په بېلابېلو برخو کې لا خراب شوی دی. څکه طالبانو په دې موده کې عدالت ته د ښځو پر لاسرسي، د ښځو پر تعلیم، د ښځو د کار پر حق او آزادانه ګرځېدو باندې په ټول هیواد کې سخت محدودیتونه لګولي دي.**

په همدې حال کې، طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې د دولتي خدماتو وړاندې کولو، د سرچینو، فرصتونو او ملي امکاناتو ته د لاسرسي  په برخو کې او هم د بشرپالو مرستو په وېش کې له متضرربدونکو قومي او مذهبي ډلو سره تبعیضي چلند کړی او خلک یې د ایډیالوژیکو، قومي او مذهبي ځانګړنو پر بنسټ ګمارلي او یا یې له دولتي ادارو څخه لرې کړې دي.

**د متفاوتو مذهبي عقایدو او افکارو ځپل، پر مذهبي آزادیو د سختو محدودیتونو پلي کول او حتا د مذهب بدلولو ته د لړکیو اړیستل هغه نور موارد دي چې په یاده موده کې د طالبانو له خوا ترسره شوي دي.**

په دې راپور کې هڅه شوې چې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د مدني او سیاسي حقونو، د ښځو او د متضرربدونکو قومي او مذهبي ډلو د بشري حقونو د نقض پر مهمو پېښو په تمرکز سره د بشر حقونو د روان وضعیت ریښتینی انځور وړاندې شي، او تمه کیږي چې په دې راپور کې راغلي موندنې او وړاندیزونه د حاکمې ډلې، په ملي او بین المللي کچه د بشري حقونو بنسټونو او رسنیو د پاملرنې وړ وګرځي.

# د معلوماتو راټولولو تګلاره

په دې راپور کې راغلي اطلاعات د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو د وضعیت د پرله پسې څارنې له لارې ترلاسه شوي دي.

**د رواداري څارونکو له پوښتنپاڼو څخه په ګټې اخستنې او د هیواد په ۳۱ ولایتونو[1] کې ډېر شمېر سیمه ییزو سرچینو ته په مراجعې کولو د سیاسي او مدني حقونو او د ښځو او متضرربدونکو قومي او مذهبي ډلو د بشري حقونو د نقض پېښې څېړلې، مستندې او ثبت کړې دي.**

قربانیان، عیني شاهدان، د قربانیانو نږدې کسان، مدني فعالان او د بشر حقونو مدافعین، خبریالان، مدافع وکیلان، ټولنیز مخور کسان، د دولتي ادارو او ښوونیزو او روغتیایي بنسټونو کارکوونکي او د اړوندو ملي او بین المللي موسسو کارکوونکي هغه مهمې سرچینې دي چې په دې راپور کې د راغلیو معلوماتو په برابرولو کې یې همکاري کړې ده.

د دې تر څنګ، له هغو فرمانونو، احکامو او غږیزو، تصویري او کتبي اسنادوهم ګټه پورته شوې چې په تېرو شپږو میاشتو کې خپاره شوي او د رواداري په واک کې ورکړل شوي دي. همدا راز، د رواداري پر مخکنیو راپورونو او د نورو بشري حقونو بنسټونو پر راپورونو هم استناد شوی دی.

د رواداری مونډنې ښیي چې اطلاعاتو ته لاسرسی د ۲۰۲۴ په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۲۰۲۳ کال د همدې مودې په پرتله د طالبانو د زیاتیدونکو محدودیتونو له امله د پام وړ سخت شوی دی. طالبان د ډار او وېرې د فضا په رامنځته کولو د بشر حقونو د نقض اړوند د هر ډول معلوماتو خپرولو مخه نیسي. استخبارات، امربالمعروف، اطلاعاتو او کلتور ریاستونه او د والیانو دفترونه له هغو ادارو څخه دي چې معلوماتو ته پر لاسرسي د محدودیتونو په پلي کولو کې بنسټیز نقش لري. په دې کې د استخباراتو اداره په ټول هیواد کې د خلکو فعالیتونه او په ځانګړې ډول د مدني فعالانو، خبریالانو، رسنیو، د بشر حقونو د مدافعانو، د ښوونیزو بنسټونو، د مدافع وکیلانو او د روغتیایي مرکزونو فعالیتونه څاري.

**د ترلاسه شویو شواهدو پر بنسټ د استخباراتو اداري ډېر شمېر ټولنیز فعالان، خبریالان او د بشر حقونو مدافعان احضار کړي او له هغوی څخه یې رسنیو او بشري حقونو سازمانونو ته د معلوماتو د نه ورکولو ژمنه اخستې ده.**

همدا راز، خلکو په مرکو کې رواداري ته ویلي چې طالبانو دوی تهدید کړي چې که له رسنیو او بشري حقونو بنسټونو سره معلومات شریک کړي و به نیول شي او شکنجه به کړای شي. سره له دې، رواداري داسې قضیې مستندې کړې دي چې د قربانیانو نږدې کسان او د کورنۍ غړي رسنیو او بشري حقونو سازمانونو سره د خبرو له امله نیول شوي او بندیان شوي دي. پر همدې بنسټ، د وېرې او بې اعتمادۍ په فضا کې له هیوادوالو او په ځانګړې ډول له قربانیانو او عیني شاهدانو څخه د نظر ور کولو جرات اخستل شوی دی. له بل پلوه، طالبانو تر خپل کنټرول لاندې ټولو ادارو ته امر کړی چې په خپلسرې ډول د فرمانونو، احکامو او نورو مهمو اسنادو له خپرولو ډډه وکړي.[2] د دې تر څنګ په یو شمېر کلیو او لرې پرتو سیمو کې مخابراتي شبکې هم غیرفعالې دي، او دا ښکاره دلیل دی چې د بشر حقونو د پام وړ پېښې پټې پاتې کیږي. پر همدې دلیل، هغه څه چې وړاندې په دې راپور کې راځي د بشر حقونو د نقض د ډېرو پیښو یوه برخه ده چې شته امکاناتو او ظرفیتونو ته په کتو رواداري بنسټ توانېدلی مستندې یې کړي.

1 هرات، نیمروز، بادغیس، دایکندي، غور، فراه، خوست، پکتیا، پکتیکا، کابل، پروان، میدان وردګ، کاپیسا، سرپل، سمنګان، غزني، بدخشان، کندوز، تخار، بغلان، ننګرهار، کنړ، کندهار، ارزګان، زابل، هلمند، بامیان، لوګر، فاریاب، بلخ او جوزجان.

2 رواداري، محدودیت، ځپل او سانسور، په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د بیان د آزادۍ وضعیت، ص ۹مه، می ۲۰۲۴ https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024/04/RW_PressFreedom_Dari.pdf

## لومړۍ برخه

# د مدني او سیاسي حقونو نقض

د راپور په دې برخه کې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د رواداری له خوا مستند شویو پیښو ته په کتو د مدني او سیاسي حقونو د وضعیت ارزونه او شننه ترسره کیږي. د ژوند حق د نقض بېلابېل مصداقونه او بڼې، د آزادۍ او شخصي امنیت حق، د انساني کرامت حق او سوله ییزې راټولېدنې هغه خورا مهم موضوعات دي چې په راتلونکو کرښو کې پرې بحث کیږي.



انځور: سهراب عمر

## د ژوند د حق نقض

**د ترلاسه شویو موندنو او شواهدو پر بنسټ، د راپور ورکولو په دې دوره کې کم تر کمه ۳٦۷ تنه په ۳۰ ولایتونو[3] کې د هدفي انفجاري او انتحاري بریدونو او له تېرو جګړو د پاتې شویو چاودېدونکو توکو د چاودنو په پایله کې او یا په هدفي او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپیان شوي دي. په دې منځ کې ۲۳۹ تنه وژل شوي او د ۱۲۸ تنو په شمېر ټپیان شوي دي.**

په وژل شویو کې ۱۷۸ نارینه، ۱۷ ښځې، ۴۴ ماشومان دي. همدا راز، په ټپیانو کې ۱۷۸ نارینه ، ۲ ښځې او ۴۸ ماشومان دي. د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي، ښځې، ماشوامان، قومي مشران، او د طالبانو مخالفین او منتقدین په قربانیانو کې شامل دي.

| ۳٦۷ | ۲۳۹ | ۱۲۸ | ۱۷۸ |
|---|---|---|---|
| ټولو وژل شوی او زخمیانو شمیر | د وژل شوي شمیر | تنه ټپیان شوي | د نارینه وژل شوي شمیر |
| **٤٤** | **۱۷** | **۷۸** | **٤۸** |
| تنه ماشومان وژل شوي | تنه ښځینه وژل شوي | تنه نارینه ټپیان شوي | تنه ماشومان ټپیان شوي |
| **۲** | | | |
| تنه ښځینه ټپیان شوي | | | |

رواداري د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ژوند د حق د نقض ټولې ٥۱٦ پېښې ثبت کړې وې. د دواړو شمېرو مقایسه ښیي چې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تېر کال په پرتله[4] د ژوند د حق نقض ۲۸.۸ فیصده کم شوی دی. دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو او په ځانګړي ډول د هدفي، مشکوکو او له محاکمې پرته وژنو پټولو له امله وي. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې حاکمې ډلې په زور، ډار او ویرولو سره د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د اړوندو معلوماتو د خپرولو مخه نیولې ده. په دې اړوند د قربانیانو کورنیو رواداري ته ویلي چې طالبانو رسنیو او بشري حقونو سازمانونو ته د هر ډول نظر څرګندولو څخه منعه کړې دي. رواداري په مشخص ډول نه ده توانېدلې چې د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د یو شمېر قربانیانو او د هغوی د کورنۍ هویت پیدا کړي او په همدې دلیل یوه برخه قضیې نه دي مستندې شوې او د اړتیا وړ اطلاعات یې نه دي ترلاسه شوې.

3 هرات، نیمروز، بادغیس، دایکندي، غور، فراه، خوست، پکتیا، پکتیکا، کابل، پروان، میدان وردګ، کاپیسا، سرپل، سمنګان، غزني، بدخشان، کندوز، تخار، بغلان، ننګرهار، کنړ، کندهار، ارزګان، زابل، هلمند، بامیان، لوګر، بلخ او جوزجان.

4 رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت، ۷ ص، آګست، ۲۰۲۳ https://rawadari.org/120820231654.htm/

**د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د ژوند د حق د نقض پرتله**

| ۲۰۲۳ کال | کم شوی دی | ۲۰۲۴ کال |
|---|---|---|
| ٥١٦ | ٪۲۸،۸ | ٣٦٧ |

دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو له امله وي.

## ۱ - له هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونو څخه رامنځته شوې مرګ ژوبله

د دې راپور موندنې ښیي چې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د هدفي انتحاري او انفجاري بریدونو په پایله کې په کابل، کندهار، نیمروز او بامیان ولایتونو کې کم تر کمه ٦٩ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي دي. چې په دې کې ۳۴ تنه وژل شوي او ۳۵ ټپیان دي.

رواداري د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۱۱۱ پېښې چې د هدفي، ځانمرګو او انفجاري بریدونو له امله رامنځته شوې وې ثبت کړې وې. د دواړو شمېرو پرتله ښیي چې د هدفي ځانمرګو او انفجاري بریدونو څخه رامنځته شوې مرګ ژوبله د تېر کال د شپږو میاشتو په نسبت ۳۷.۸ سلنه کموالی ښیي.

| تنه وژل او ټپیان شوي دي | تنه وژل شوي دي | تنه ټپیان شوي دي |
|---|---|---|
| ٦٩ | ٣٤ | ٣٥ |

**د هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونو له امله د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې پرتله**

| ۲۰۲۳ کال | کم شوی دی | ۲۰۲۴ کال |
|---|---|---|
| ١١١ | ٪۳۷،۸ | ٦٩ |

دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو له امله وي.

د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۷مه نېټه، د کابل لویدیځ په دشت برچي کې په یو مسافر وړونکي بس کې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله دوه تنه ملکي وګړي ووژل شول او ۱۴ نور ټپیان شول. د دې برید مسئولیت داعش پر غاړه واخیستي. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په ۲۱مه نېټه په کندهار ښار کې له یو خصوصي بانک سره نږدې د یو ځانمرګي برید له امله کم تر کمه ۱۲ تنه ملکي وګړي ووژل شول او درې تنه نور ټپیان شول. د دې برید مسئولیت داعش دلې پر غاړه واخیستي. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د مې پر ۲۰مه نېټه په کندهار ښار کې د یوې چاودنې په پایله کې یو تن ووژل شو او درې تنه نور ټپیان شول.

له بل پلوه، د ۲۰۲۴ کال د می پر ۱۸مه نېټه په يو وسله وال برید کې د باميان ولايت په مرکز کې پر بهرنيو سيلانيانو  په برید کې د دري تنو بهرنيانو په ګډون شپږ تنه ووژل شول او اووه تنه ټپيان شول. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر خلورمه او ۱۵مه نېټه د خوست او پکتيکا ولايتونو پر ځينو برخو د پاکستان د نظامي هوايي ځواکونو په بمبار کې کم تر کمه اته تنه ووژل شول.

## ۲ - له جګړې څخه د پاتې مائينونو او چاودېدونکو توکو د چاودنو له امله رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبله

د ۲۰۲۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې کم تر کمه ۱۰۵ تنه د ځای پر ځای شويو ماينونو، سرګلولو او له جګړو څخه د نورو پاتې شويو چاودېدونکو توکو د چاودنو په پايله کې، چې يو شمير د افغانستان اسلامي جمهوري  دولت پر وړاندې د يو جنګي تاکتيک په توګه کارول کيده، وژل شوي او ټپيان شوي دي، له دې څخه ۴۹ تنه وژل شوي او ۵۷ نور ټپيان شوي دي. دا شمېرې د تېر کال له همدې مودې سره په پرتله چې ٦۳ پېښې وې، ٦٦.٦ فيصده زياتوالی ښيي.

**د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو د لومړيو شپږو مياشتو د شمېرو پرتله**

| ۲۰۲۳ کال | | ۲۰۲۴ کال |
|---|---|---|
| ٦۳ | ٪٦٦،٦ کم شوي دی | ۱۰۵ |

دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدوديتونو لګولو له امله وي.

د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۲۸مه د غزني په (واغز) ولسوالۍ کې د هاوان د يوې سرګلولې د چاودنې له امله يو ماشوم ووژل شو او پنځه تنه نور ټپيان شول. د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ يو ماشوم غوښتل دا سرګلوله خپل کور ته ويسي چې وچاوده او په پايله کې شپږو تنو ته مرګ ژوبله واوښته.

> **همدا راز د ۲۰۲۴ کال د اپريل پر لومړۍ نېټه د غزني ولايت په ځدران کلي کې نهه ماشومان ووژل شول. قربانيان پنځه نجونې او څلور ماشومان دي چې د څلورو او لسو کلونو تر منځ په عمر ؤ.**

د ۲۰۲۴ کال د جون پر شپږمه نېټه د کاپيسا ولايت په «محمود راقي» ښار کې له تېرو جګړو څخه د پاتې شوې هاوان سرګلولې د چاودنې له امله يو ماشوم مړ او دري نور ټپيان شول. همدا راز د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر ۲۹مه او د اپريل مياشتې پر ۱۸مه د هرات ولايت په «کشک کهنه» او «زنده جان» ولسواليو کې د هاوان د يوې سرګلولې د چاودنې له امله کم تر کمه دوه ماشومان مړه او پنځه نور ټپان شول.

## ۳ - هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

د رواداري موندنې ښيي چې د راپور په دې دوره کې کم تر کمه ۱۹۳ تنه چې ۱۸۱ نارينه، ۹ ښځې او ۳ ماشومان دي د طالبانو او نامعلومو کسانو له خوا په هدفي او مرموز ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپيان شوي دي. دا شمېرې د تېر کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله[5] چې ۳۴۲ پېښې وې ۴۳.۵ فيصده کموالی ښيي.

| د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو پرتله | | |
|---|---|---|
| ۳۴۲<br>۲۰۲۳ کال | ٪۴۳،۵<br>کم شوی دی | ۱۹۳<br>۲۰۲۴ کال |

دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو له امله وي.

په دې برخه کې د شمېرو د کمښت تر ټولو مهم دليل لکه څنګه چې يادونه وشوه د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو اړوند د معلوماتو د خپرولو مخنيوی دی. څکه طالبانو د ډار او وېرې د فضا په رامنځته کولو او د قربانيانو پر کورنيو د فشار راوړلو له لارې د اړوندو معلوماتو د پټ ساتلو هڅه کوي.[6]

## د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو عاملان

**طالبانو تل هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې «نامعلومو وسله والو» پورې تړلې دي او د قربانيانو کورنيو ته يې د قانوني اقداماتو ډاډ ورکړی. خو واقعيت دا دی چې په تېرو درې کلونو کې هغوی نه یواځې دا چې د دې پېښو د مرتکبينو د مجازات کولو لپاره يې د حقوقي اجراآتو په اړه هيڅ معلومات نه دي ورکړي بلکې په دې برخه کې د هر ډول اطلاعاتو د خپرولو مخنيوی هم کړی دی.**

د ترلاسه شويو شواهدو پر بنسټ، طالبانو د قربانيانو کورنۍ د هر ډول نظر څرګندولو او معلوماتو وړاندې کولو څخه منعه کړې او په ځينو مواردو کې يې حتا هغوی نيولي او بنديان کړي دي. همدا راز، رسنۍ او خبريالان هم د دې ډول پېښو له خبري پوښښ څخه منعه شوي دي. روغتونونه او روغتيايي مراکز هم اجازه نه لري چې د قربانيانو د هويت اړوند معلومات خپاره کړي او يا يې د رسنيو او خبريالانو په واک کې ورکړي. پر همدې دليل او د قربانيانو د کورنيو په وينا، د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو ډېر شمېر عاملان په واقعيت کې پخپله طالبان دي چې د مخکني حکومت له کارکوونکو او خپلو مخالفينو او منتقدينو څخه د غچ اخستنې په موخه دغه وژنې کوي.

5 . رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت، ص ۱۰، آګست ۲۰۲۳ https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf
6 . رواداري، محدودیت، څېنه او سانسور، په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د بیان د آزادۍ وضعیت، می ۲۰۲۴ https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024/04/RW_PressFreedom_Dari.pdf

## ۱ - د مخکني حکومت د کارکوونکو هدفي وژنې

د دې راپور له موندنو سره سم، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۵۱ تنه د پخواني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي په هدفي او مرموز ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپیان شوي دي.

د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۵۵ تنو په شمېر د مخکني حکومت کارکوونکي د هدفي وژنو په پایله کې وژل شوي او ټپیان شوي ؤ. د دواړو شمېرو مقایسه ښیي چې د راپور ورکولو په دې دوره کې د مخکني حکومت د کارکوونکو او د هغوی د کورنیو د غړو د وژنو په شمېر کې ۷.۲ فیصده کموالی راغلی دی.

| د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو پرتله | | |
|---|---|---|
| ۵۵<br>۲۰۲۳ کال | ٪۷،۲<br>کم شوی دی | ۵۱<br>۲۰۲۴ کال |
| دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو له امله وي. | | |

د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۰مه د غور ولایت په (پسابند) ولسوالۍ کې دوه تنه پخواني نظامیان په بوګنوونکي ډول په تبر او تیشه ووژل شول. په یو بل ورته مورد کې د همدې ولایت په مرکز کې د مخکني حکومت یو کارکوونکی له خپلې لور سره د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۲مه ووژل شول. همدارنګه، د مارچ پر اوومه نېټه د پکتیا ولایت په مرکز کې یو مخکنی نظامي او د خوست ولایت په تڼیو ولسوالۍ کې د امریکایي او افغاني ګډو ځواکونو د ځانګړې قطعې یو سرتېرى د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۰مه نېټه په مرموز ډول ووژل شول چې تر اوسه د دې دواړو پېښو د عاملانو په اړه هیڅ اطلاع نشته.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر دویمه نېټه د مخکنیو سیمه ییزو پولیسو یو غړی د کندهار په پنجوایي ولسوالۍ کې د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو. د همدې کال د جنوري میاشتې پر لومړۍ نېټه د فاریاب ولایت په شیرین تګاب ولسوالۍ کې یو مخکنی نظامي ووژل شو او په ورته بله پېښه کې د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر اتمه نېټه د مخکني ولسي پاڅون د ځواکونو یو قوماندان د دې ولایت په (المار) ولسوالۍ کې ووژل شو. هم مهاله، د ۲۰۲۴ کال د می پر ۲۳مه نېټه د بغلان ولایت په پلخمري کې یو مخکنی نظامي په ډزو ووژل شو. سیمه ییزو سرچینو ویلي چې دا شخص د طالبانو د دوو سرتیرو له خوا وژل شوی دی. په همدې ترتیب، د مارچ پر ۲۵مه طالبانو یو بل مخکنی نظامي په کندز ولایت کې وواژه. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، دا شخص د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له سقوط او واک ته د طالبانو له بېرته راستنېدو وروسته د کورنۍ د مصارفو د تامین په موخه په ټیکسیوانۍ بوخت و چې د طالبانو د وسله والو له خوا په نامعلومو دلایلو په ډزو ووژل شو.

> **په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۲۰مه نېټه د بدخشان ولایت په بهارک ولسوالۍ کې د ملي امنیت عمومي ریاست یو مخکنی افسر د شپې له خوا د خوب په بستر کې په ډزو ووژل شو. سیمه ییزو سرچینو ویلي چې هغه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له سقوط وروسته په بزګرۍ بوخت و. په همدې حال کې، د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر پنځمه نېټه د جوزجان ولایت په آقچه ولسوالۍ کې د مخکني حکومت یو امنیتي کارکوونکی د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل شو.**

د دې راپور موندنې همدا راز ښیي چې حاکمه ډله د عمومي بښنې فرمان ته چې خپله يې صادر کړی ژمن نه دي او په واقعیت کې دغه فرمان د مخکني حکومت د کارکوونکو په دام کې د ګېرولو لپاره کاروي. داسې موارد هم شته چې د مخکني حکومت یو شمېر کارکوونکي چې د طالبانو په بلنه هیواد ته راستانه شوي او وژل شوي دي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د فبرروري پر ۱۱مه نېټه د ځانګړي قطعې یو مخکنی غړی د طالبانو په بلنه له ایران څخه هیواد ته ستون شوی و، چې د پروان ولایت په «سیدخیل» ولسوالۍ کې په ډزو ووژل شو. د قرباني کورنۍ ویلي چې هغه مخکې د طالبانو له خوا نیول شوی او ربړول شوی و خو له خوشې کېدو وروسته ایران ته تښتېدلی و او بېرته د طالبانو په بلنه وطن ته ستون شوی و.

همدا راز، نور موارد هم شته چې ښیي د مخکني حکومت د کارکوونکو نږدې کسان او د کورنیو غړي هم له غچ اخستلو خوندي نه دي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال په جنوري میاشت کې د پارلمان د یو پخواني غړي یو خپلوان د هرات ولایت په «کشک رباط سنګي» ولسوالۍ کې د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل شو او همدا راز د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر اتمه د مخکنیو نظامیانو یو خپلوان په کابل کې ووژل شو. په یوه بله پېښه کې د بدخشان ولایت په شهدا ولسوالۍ کې د یو مخکني نظامي زوی د نامعلومو کسانو له خوا د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۵مه په چاقو ټپي شو چې اوس په روغتون کې تر درملنې لاندې دی.

شواهد ښیي چې طالبانو نه یواځې دې قضیو د تعقیب او د مرتکبانو د پېژندلو او په سزا رسولو لپاره هیڅ اقدام نه دی کړی، بلکې د قربانیانو کورنۍ يې تهدید کړې هم دي چې له رسنیو او بشري حقونو سازمانونو سره د هر ډول نظر او معلوماتو شریکولو څخه ډډه وکړي.

## ۲- له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ملکي خلکو وژل

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو کم تر کمه څلور تنه ملکي وګړي د دوی له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور وژلي دي. دا شمېرې د پنځو پېښو په توپیر سره د تېر کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۵۵.۵ فیصده کموالی ښیي.

| د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د شمېرو پرتله | | |
|---|---|---|
| ۹<br>۲۰۲۳ کال | ٪۵۵،۵<br>کم شوی دی | ٤<br>۲۰۲۴ کال |

دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو له امله وي.

**د راپور موندنو ښودلې ده چې طالبان په دې ډول مواردو کې، سمدستي او له څېړنې، د الزام د دلایلو راټولولو او د قضایي مراحلو له طی کولو پرته خپل مخالفان او منتقدین د «باغي»، «خوارج» او یا په داعش ډله کې د غړیتوب په تور وژني.**

د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر څلورمه او د مارچ پر ۲۳مه دوه تنه چې هویت يې نه دی مشخص شوی د غور ولایت په «شهرک» ولسوالۍ او مرکز کې له مخالفو ډلو سره د همکارۍ او پر طالبانو د برید په تور ونیول شول او ووژل شول. د دې ولایت سیمه ییزو مسئولینو ویلي «هغه دوه باغي کسان چې د برید اراده يې درلوده» دوی ووژل؛ خو د دې کسانو د هویت په اړه يې

معلومات نه دي ورکړي. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د مې پر ۱۱مه نېټه د طالبانو د یو مخالف د کورنۍ یو غړی د بدخشان ولایت په مرکز کې و نیول شو او له خه مودې وروسته یې مړی د اوبو له خاه خخه راوویستل شو. په ورته یوه پېښه کې، د غزني ولایت په مرکز کې د ۲۰۲۴ کال د مې پر ۲۱مه د یو ځوان مړی له یو خاه خخه راوویستل شو. طالبانو ویلي چې دوو وسله والو کسانو د نامشروعو جنسي اړیکو په تور هغه وژلی دی، خو د قرباني خپلوانو رواداري ته ویلي چې «طالبانو لس ورځې مخکې دا ځوان «ملي مقاومت جبهې» سره د همکارۍ په تور ونیو چې مور یې د برخلیک په اړه په دې موده کې هیڅ خبر نه درلود، تر دې چې امنیتي مسئولینو وویل چې جسد یې له یوې خاه خخه راویستلی دی.»

## ۳ - د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

لکه څنګه چې د دې راپور موندنې ښيي، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۱۳۱ ملکي هیوادوال په مرموز ډول او له محاکمې پرته د طالبانو او نامعلومو وسله والو له خوا وژل شوي او ټپیان شوي دي. په دې منځ کې ۱۰۳ تنه وژل شوي او ۲۸ تنه نور ټپیان شوي دي. د مخکني حکومت پلویان او ملاتړي، قومي مشران، دیني عالمان او سیمه ییز مخور هغه کسان دي چې په تېرو شپږو میاشتو کې وژل شوي او ټپیان شوي دي.

د ۲۰۲۳ په لومړیو شپږو میاشتو کې په ورته پېښو کې ۲۷۸ تنه وژل شوي او ټپیان شوي ؤ. پر همدې بنسټ، د دواړو شمېرو مقایسه ښیي چې د راپور ورکولو په دې دوره کې د ملکي وګړو د وژنې شمېر د تېر کال په پرتله ۵۲.۸ فیصده کم شوی دی.

**د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د شمېرو پرتله**

| ۲۷۸ | ٪۵۲،۸ | ۱۳۱ |
|---|---|---|
| ۲۰۲۳ کال | کم شوی دی | ۲۰۲۴ کال |

دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو له امله وي.

د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۵مه یو قومي مشر د غور ولایت په فیروز کوه ښار کې د طالبانو له خوا ووژل شو. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۱۶مه نېټه د بادغیس ولایت یو قومي مشر د نامعلومو وسله والو له خوا په ډزو ووژل شو. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د جون پر لومړۍ نېټه یو قومي مخور شخص چې د دایکندي ولایت اصلي اوسېدونکی و د هرات ولایت په «انجیل» ولسوالۍ کې په مرموز ډول ووژل شو چې د عاملانو د هویت اړوند یې هیڅ معلومات نشته.

په میدان وردګ ولایت کې د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر اوومه د مسجد یو امام د نامعلومو افرادو له خوا ووژل شو. سیمه ییزو سرچینو ویلي چې هغه د مخکني حکومت د ملاتړو او پلویانو خخه و او په خپلو ویناوو کې یې تل د ملي اردو ملاتړ کاوه. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر پنځمه نېټه د کابل په کلکان ولسوالۍ کې د میدان وردګ ولایت د تخنیکي او مسلکي انستیټیوټ یو ښوونکی ووژل شو. د دې شخص یو خپلوان ویلي چې هغه په ډزو وژل شوی. همداسې، د ۲۰۲۴ کال د مې پر لومړۍ نېټه یو شخص د پکتیا ولایت په ګردېز ښار کې د طالبانو له خوا په ډزو ووژل شو.

د یادونې وړ ده چې طالبانو د دې ډول قضیو د مرتکبینو د مجازات لپاره هیڅ قانوني اقدامات نه دي کړي او د خپلو اجراآتو په اړه یې د قربانیانو کورنیو ته معلومات نه دي ورکړي.

# اجباري تري تم کول

د توقیفولو او یا تښتولو په بڼه د دولت د مامورینو یا نورو اشخاصو یا ډلو په واسطه خلک په اجباري توګه تري تم کیږي او ورپسې د قربانیانو د نیول کېدو له اعلان او د هغوی د برخلیک او ځای په اړه له معلوماتو ورکولو ډډه کیږي.[7] سره له دې، د بشر حقونو بین المللي اسناد او په ځانګړې توګه د جزا د بین المللي محکمې اساسنامه د وګړو په اجباري توګه تري تم کول د بشر حقونو تر ټولو سخت نقض او د بشریت پر ضد د جنایت د مصداق په توګه په رسمیت پېژندلی.[8]

> **سره له دې، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د دې راپور د موندنو پر بنسټ کم تر کمه ۳٦ تنه د افغانستان په نهو ولایتونو[9] کې د طالبانو له خوا له نیول کېدو وروسته تري تم شوي دي.**

دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال د لومړیو شپږو میاشتو[10] په پرتله چې د رواداري له خوا ثبت شوي د ۲۵ پېښو په زیاتوالي درې برابره زیاتې شوې دي. د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي، د بشر حقونو فعالان او د طالبانو مخالفین او منتقدین په قربانیانو کې شامل دي. د اجباري تري تم کولو د کچې زیاتوالی ښیي چې طالبان یې د مخکني حکومت له کارکوونکو او خپلو مخالفینو او منتقدینو څخه د غچ اخستنې لپاره په سیستماتیکه بڼه کاروي.

**د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د اجباري تري تم کولو د قربانیانو شمېر**

| ۲۰۲۳ کال | | ۲۰۲۴ کال |
|---|---|---|
| ۱۱ | درې برابره زیاتې شوې دي | ۳٦ |

د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۲۸مه د غور ولایت په مرکز کې دوه تنه نظامیان تري تم شول چې له هغې مهاله تر اوسه د هغوی د برخلیک او ځای په اړه هیڅ معلومات په لاس کې نشته. همدا راز د هرات ولایت اوسېدونکې یوه ښځه چې مخکې یې د ولایت په امنیه قوماندانۍ کې کار کاوه، د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر نهمه نېټه تری تمه شوه. د دې مېرمنې خپلوانو ویلي چې د ډېرو هڅو سره سره لا هم نه پوهیږي چې له کوم برخلیک سره مخامخ شوې او چېرته ساتل کیږي. د ۲۰۲۴ کال د مې پر ۲۳مه په یوه بله پېښه کې د هرات ولایت د «رباط سنګي» ولسوالۍ یو اوسېدونکی وروسته له هغې تری تم شو چې د طالبانو د سیاستونو په مخالفت کې یې څرګندونې کړې وې. د یاد شخص په اړه تر اوسه هیڅ اطلاع نشته او کورنۍ یې د برخلیک او د ساتلو د ځای په اړه معلومات نه لري. سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال د جون پر اوومه نېټه د فراه ولایت د مرکز یو تن اوسېدونکی تری تم شو او کورنۍ یې عکس په ټولنیزو شبکو کې خپور کړ چې وروسته معلومه شوه د طالبانو له خوا نیول شوی او د دې ولایت د امنیې قوماندانۍ په نظارت خونه کې توقیف شوی دی. د قرباني کورنۍ ویلي چې نه پوهیږي په کوم تور نیول شوی.

7 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د اجباري تري تم کولو پر وړاندې د ملاتړ بین المللي کنوانسیون، د ۲۰۱۰ کال تصویب شوی، دویمه ماده، د جزایي بین المللي محکمې اساسنامه، د ۱۹۹۷ کال تصویب شوې، اوومه ماده، (۲)، (i).

8 . هماغه سرچینه، اوومه ماده، (۱)، (i).

9 . غور، هرات، بامیان، کندهار، فراه، بدخشان، تخار، بغلان او غزني.

10 . رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت، ۱۴مخ، ۲۰۲۳ اګست https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf

**په کندهار ولایت کې د مخکني حکومت یو سرتېرى چې د طالبانو له وېرې پاکستان ته تښتېدلى و او بېرته هېواد ته ستون شوی و د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر پنځمه نېټه د دې ډلې د استخباراتو د اداري له خوا ونیول شو. د دې مخکني نظامي يو خپلوان رواداري ته ویلي چې څو کسان چې ځانونه يې د استخباراتو کارکوونکي معرفي کړي ؤ هغه يې له کار ځای څخه ونیو او له هغې وروسته تر اوسه يې په اړه هیڅ اطلاع نه لرو او نه پوهېږو چې چېرې او څه ډول ساتل کېږي.**

په دوو نورو پېښو کې د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۱٦مه او ۱۸مه نېټه طالبانو پنځه تنه نجوني د بامیان ولایت په مرکز کې ونیولې چې له هغې مهاله تر اوسه يې په اړه هیڅ معلومات نشته او طالبان د دې نجونو د نیولو او د ساتلو د ځای په اړه معلومات نه ورکوي.

**د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر ۱٦مه نېټه د طالبانو د استخباراتو اداري شپږ تنه په تخار ولایت کې ونیول او نامعلوم ځای ته يې یوړل چې تر اوسه يې د برخلیک او د ساتلو د ځای په اړه هیڅ معلومات نه دي ترلاسه شوي. د دې تري تم شویو کسانو څخه د یوې ښځې ویلي چې خاوند يې د مخکني حکومت د سرحدي قطعې افسر و چې واک ته د طالبانو له راستنېدو وروسته په بزګرۍ او زراعتي کارونو بوخت و او له هیڅ ډلې سره يې اړیکه نه درلوده. هغې ویلي چې په دې موده کې يې هڅه کړې چې د مرګ او ژوند په اړه او یا د ساتنې د ځای په اړه يې معلومات ترلاسه کړي خو پایله يې نه درلوده.**

د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر درېیمه نېټه طالبانو د غور ولایت په «پسابند» ولسوالۍ کې څلور پخواني نظامیان ونیول او نامعلوم ځای ته يې یوړل چې له هغې مهاله تر اوسه يې د برخلیک په اړه هیڅ معلومات نشته. همدا راز، د طالبانو ډلې د بدخشان ولایت په شهدا ولسوالۍ کې یو ځوان پر خپلې فیسبوک پاڼې د یو پیغام د خپرولو له امله چې پکې يې د «ملي مقاومت جبهې» د وژل شویو غړو له کورنیو سره خواخوږي ښودلې وه د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۳۰مه نېټه ونیو. د دې ځوان یو خپلوان ویلي چې هغه پر خپلې فیسبوک پاڼې د ملي مقاومت جبهې سره د تړلو اشخاصو له کورنیو سره چې طالبانو سره په جګړه کې وژل شوي ؤ، خواخوږي ښودلې وه چې له ایران څخه له راستنېدو سره سم د طالبانو له خوا ونیول شو او نامعلوم ځای ته یوړل شو. هغه وایي چې په دې موده کې د سیمې خلکو بیا بیا د طالبانو سیمه ییزې اداري ته مراجعه کړې ده خو هغوی ځواب نه ورکوي.

سربېره پر دې د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د طالبانو د استخباراتو اداري په بدخشان ولایت کې یو تن له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور ونیو چې د نیول کېدو له مهاله تر اوسه يې کورنۍ د ساتلو د ځای او برخلیک په اړه معلومات نه لري.

د دې راپور موندنې ښيي چې د استخباراتو اداره، امنیه قوماندانۍ او په هرات ولایت کې «الفاروق قول اردو» د یادو افرادو د اجباري تري تم کولو مرتکبان دي چې په دې منځ کې د استخباراتو د اداري له خوا تر ټولو ډېر خلک په اجباري توګه تري تم شوي دي.

## خپلسرې او غیر قانوني نیونې

د دې راپور د موندنو پر بنسټ د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۳۳ ښځو په ګډون کم تر کمه ٦۱۴ تنه په خپلسري او غیر قانوني توګه نیول شوي او بندیان شوي دي. رواداري د تېر کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۲۲۲ پېښې چې د خپلسرو او غیر قانوني نیونو اړوند وې ثبت کړې وې.[11] د دواړو شمېرو پرتله ښيي چې د تېر کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله خپلسرې او غیر قانوني نیونې دوه چنده زیاتې شوې دي.

11 . رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت،۳، ص ۱٦، آګست ۲۰۲۳ https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf

**د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د خپلسرو او غیرقانوني نیونو د شمېر پرتله**

| ۲۲۲ | دوه چنده زیاتي شوې دي | ٦١٤ |
|---|---|---|
| ۲۰۲۳ کال | | ۲۰۲۴ کال |

په داسې حال کې چې د بشر حقونو بین المللي اسنادو د آزادۍ او شخصي امنیت حق د وګړو د یو تر ټولو مهم بشري حق په توګه په رسمیت پېژندلی او د وګړو د آزادۍ په خپلسري او غیرقانوني توګه نه سلبولو باندې یې تاکید کړی دی.[12] خو حاکمې ډلې د بشر حقونو موازینو او د نیولو لپاره په قانون کې راغلیو تشریفاتو ته له هیڅ ډول د پاملرنې پرته په پراخه توګه د هیوادوالو د خپلسرو او غیر قانوني نیولو مرتکب ګرځېدلي دي.

د مخکني حکومت کارکوونکي، د طالبانو مخالفین او منتقدین، مدني فعالان او خبریالان هغه اشخاص دي چې د طالبانو له خوا په خپلسرې او غیر قانوني توګه نیول شوي او بندیان شوي دي. پر یادو اشخاصو د وسلې درلودلو، مخالفو ډلو سره د همکارۍ، انتقاد، د طالبانو د اسلامي امارت پر ضد تبلیغات او د ښځو د پوښاک د ډول او تګ راتګ اړوند د امربالمعروف اداري له خوا د وضعه شویو مقرراتو څخه د سرغړونې تورونه لګول شوي. د وګړو د آزادۍ غیرقانوني سلبول او ناوړه چلند همدا راز تر ټولو معمول ابزار دي چې طالبان یې په ځانګړي ډول د مخکني حکومت د کارکوونکو او خپلو مخالفینو او منتقدینو د ځپلو لپاره کاروي.

د ترلاسه شویو شواهدو پر بنسټ، د طالبانو بېلابېلې اداري د افرادو په غیرقانوني نیولو او بندیانولو کې نقش لري. لکه څنګه چې په هرات ولایت کې، د پوهنې او اوبو او برېښنا ریاستونه هر یو یې شخصي زندان لري او خلک هر څومره چې وغواړي توقیف کولای شي. خو په دوی کې د استخباراتو اداره په تېرو شپږو میاشتو کې په ډېرې خپلسرو او غیرقانوني نیونو کې لاس لري. همدا راز، د امربالمعروف اداري او امنیه قوماندانیو هم ډېر اشخاص په دې موده کې په غیر قانوني توګه نیولي او بندیان کړي دي.

> **البته د طالبانو د امربالمعروف اداره په ټولو ولایتوو کې خپلې نظارت خونې لري چې په ډېرې مواردو کې نیول شوي کسان له رسمي دوسیې او محاکمو ته له ارجاع کولو پرته مجازات کوي. سربېره پر دې، دا مهال د نظارت او توقیب د شرایطو او مودې د ټاکلو لپاره هیڅ قانون نشته او په همدې دلیل یادې اداري هر څومره چې وغواړي خلک په نظارت او توقیف کې ساتي.**

## ۱ - د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسرې نیونې او ځورونې

د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د مخکني حکومت ٦٤ تنه ملکي او نظامي کارکوونکي په غیرقانوني ډول ډېری د استخباراتو د اداري له خوا نیول شوي او بندیان شوي دي. د شمېرو پرتله ښيي چې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د مخکني حکومت کارکوونکي په خپلسري ډول نیول د تېر کال په پرتله چې ۷۳ پېښې وې، ۱۲.۳ فیصده کموالی ښیي.

12 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، نهمه ماده. د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، لومړی بند، نهمه ماده.

| د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو د لومړیو شپږو میاشتو د شمېرو توپیر | | |
|---|---|---|
| ۷۳ | ٪۱۲،۳ | ٦٤ |
| ۲۰۲۳ کال | کم شوی دی | ۲۰۲۴ کال |

دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو له امله وي.

معلومات ښیي چې په غور ولایت کې په تېرو شپږو میاشتو کې د مخکني حکومت ۲۰ تنه ملکي او نظامي کارکوونکي په خپلسري او غیرقانوني توګه نیول شوي. په تخار ولایت کې هم په دې موده کې طالبانو ۱۴ تنه د مخکني حکومت کارکوونکو او د هغوی خپلوان نیولي او بندیان کړي دي.

د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر اتمه د طالبانو استخباراتو یو مخکنی نظامي د بامیان ولایت په «یکه ولنگ نمبر یک» کې ونیو. سیمه ییزو سرچینو ویلي چې دې شخص ټیکسي چلوله او طالبانو هغه د وسلې درلودلو په تور نیولی دی. دا مخکنی نظامي مخکې هم د طالبانو له خوا احضار شوی و.

د ۲۰۲۴ کال د مارچ ۱۸مه او ۳۰ مه نېټه طالبانو په میمنې ښار او د فاریاب ولایت په «پښتونکوټ» ولسوالۍ کې دوه تنه مخکني نظامیان ونیول. همدا راز د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر ۱۱مه یې په بغلان کې یو مخکنی نظامي ونیو او بندي یې کړ. همدا راز، د استخباراتو اداري د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ پر اتمه او نهمه نېټه د مخکني حکومت دوه نظامي افسران په میدان وردګ ولایت کې له مسافر وړونکي موټر څخه ښکته کړل. دا دوه تنه د دایکندي ولایت اوسېدونکي دي چې د وسلې درلودلو په تور نیول شوي دي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، طالبانو یاد کسان شکنجه کړي او له یوه څخه یې د لس میله وسلو معادل پیسې اخستې دي.

له بل پلوه، طالبان هغه ټیټ رتبه کارکوونکي چې له مخکني حکومت څخه تر اوسه د طالبانو تر کنټرول لاندې ادارو کې کار کوي په پرله پسې توګه ځوروي. د بېلګې په توګه په کندهار ولایت کې دوو ملکي کارکوونکو ویلي چې: «ډېر وخت د طالبانو له خوا ځورول کېدلو چې دنده پرېږدو او حتا څو ځله مو اخطار هم تر لاسه کړ خو موږ خپلو دندو ته دوام ورکړ، تر هغې چې زموږ پر ضد یې دسیسه جوړه کړه او د اداري فساد په تور یې موږ ونیولو او بندیان یې کړو چې یو همکار مې تر اوسه هم نه دی خوشې شوی.» په هرات ولایت کې هم د بریښنا ریاست یو کار مند د روان کال په فبروري میاشت کې له دندې ګوښه او محکمې ته ور و پېژندل شو. طالبانو دا شخص د اداري فساد په تور چې وروسته ثابت نه شو، ونیو او پر ځای یې خپل د باور وړ کس معرفي کړ. په نیمروز ولایت کې هم، وروسته له هغې چې د ولایت په سیمه ییزه اداره کې ځانمرګی برید ترسره شو، طالبانو د جمهوریت د دورې ملکي کارکوونکي وپلټل او په غیر قانوني توګه یې ونیول، په داسې حال کې چې د امنیت د تامین مسئولیت خپله د طالبانو د غړو پرغاړه و. په همدې دلیل یو شمېر دغه کارکوونکي اړ شول خپلې دندې پرېږدي. په بادغیس ولایت کې طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې کم تر کمه پنځه تنه د جمهوریت د دورې کارکوونکي په بېلابېلو تورونو له دندو ګوښه کړل.

**سربېره پر دې، طالبانو د ۲۰۲۴ کال په پیل کې د کندهار ولایت په ارغنداب او پنجوای ولسوالیو کې د مخکني حکومت د امنیتي او دفاعي بنسټونو د کارمندانو په هر ډول راټولېدنو او حتا په شپنیو میلمستاوو بندیز لګولی او هغوی ته یې خبرداری ورکړی چې د سرغړونې په صورت کې به ونیول شي او سزا به ورکړل شي.**

## ۲ - د مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعینو خپلسرې نیونې

**د دې راپور موندنو ښودلې چې طالبانو د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۲۰ تنه مدني او د بشر حقونو فعالان چې ۹ یې ښځینه دي په خپلسرې توګه نیولي او بندیان کړي دي. د دې کسانو تور د طالبانو پر ضد تبلیغات او د افغان ښځو اړوند د دې ډلې پر سیاستونو نیوکه وه.**

رواداري د ۲۰۲۳ کال په لمړیو ٦ میاشتو کې د مدني فعالانو، د بشر حقونو د مدافعینو او خبریالانو ټولې ۴۷ خپلسرې نیونې ثبت کړې وې. د یادو شمېرو پرتله ښیي چې د مدني فعالانو، د بشر حقونو د مدافعانو او خبریالانو د خپلسرو نیونو کچه په ۲۰۲۴ کال کې ۵۷.۴ فیصده کمه شوې ده.

| د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو د لومړیو شپږو میاشتو د شمېرو توپیر | | |
|---|---|---|
| ۴۷<br>۲۰۲۳ کال | ٪۵۷،۴<br>کم شوی دی | ۲۰<br>۲۰۲۴ کال |

دا کموالی ممکن د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګولو له امله وي.

معلوماتو ښودلې چې د ۲۰۲۴ کال د جنوري پر دریېمه او د فبروري پر ۱۲مه نېټه طالبانو د غور ولایت دوه خبریالان د ښځو د تعلیم او کار د حق د ملاتړ له امله ونیول. همدا راز، د کندهار ولایت د طالبانو د استخباراتو اداري یو مدني فعال په ټولنیزو شبکو کې د انتقادي پوستونو له امله د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر اوومه نېټه ونیو او په یوه میاشت بند یې محکوم کړ. دا شخص همدا راز په راتلونکي کې له هر ډول مدني فعالیت څخه منعه شوی دی. په یوه بله ورته پېښه کې د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر ۱۱مه نېټه د استخباراتو اداري د بدخشان ولایت یو مدني فعال ونیو. پر دې کس تور دا و چې په فیسبوک ټولنیزه شبکه کې یې پر طالبانو نیوکه کړې وه.

**سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال په مې میاشت کې طالبانو په تخار ولایت کې د ښځو د حقونو یو مدافعه ونیوله. دې ښځې چې کلونه یې د ښځو د حقونو دفاع لپاره فعالیت کړی، په وروستیو کې د یوې وړې نجلۍ له وخته مخکې د واده د مخنیوي لپاره هڅه کوله د طالبانو له خوا ونیول شوه.**

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۴مه طالبانو په کندوز ولایت کې یو خبریال د یو پل په اړه د راپور جوړولو له امله چې د جمهوریت پر مهال طالبانو الوځولی او نړولی و، ونیول شو. د اپریل پر دویمه، طالبانو یو مدني فعال په هرات ولایت کې او د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۲۰مه او د غزني ولایت په جاغوري ولسوالۍ کې یو بل خبریال ونیول شو. د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۲۹ مه یو مدني فعال په سرپل ولایت کې د نا اعلان شوي تور له مخې ونیول شو او وروسته له یوې اونۍ په ضمانت خوشې شو. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په جنوري میاشت کې طالبانو په ننګرهار ولایت کې یو خبریال او شاعر د انتقادي شعرونو د خپرولو له امله ونیو چې له څلور میاشتې بند وروسته خوشې شو. په ورته یوه بله پېښه کې په همدې ولایت کې د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر ۲۵مه د پوهنتون یو استاد د طالبانو پر اسلامي امارت د انتقاد په تور د یوې اونۍ لپاره بندي کړای شو.

## ۳ - د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د خلکو خپلسرې نيونې

د دې راپور موندنې ښيي چې د راپور ورکولو په دې دوره کې طالبانو کم تر کمه ۲۵۲ تنه د دوی له مخالفو ډلو سره د همکارۍ او اړيکو په تور نيولي او بنديان کړي دي. دا شمېرې د ۱۹۹ پېښو په تفاوت سره نږدې پنځه برابره زياتې شوې دي.

| د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو د لومړيو شپږو مياشتو د شمېرو توپير | | |
|---|---|---|
| **۲۵۲**<br>۲۰۲۴ کال | نږدې پنځه برابره زياتې شوې دي | **۵۳**<br>۲۰۲۳ کال |

**د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د راپور ورکولو په دې دوره کې يواځې په کندهار ولايت کې ۳۲ تنه او په غور ولايت کې ۳۰ تنه د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ او غړيتوب په تور په غير قانوني توګه نيول شوي او بنديان شوي دي. معلومات ښيي چې طالبانو له اسنادو او موجه دلايلو پرته دا کسان طالبانو د دوی له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور نيولي دي.**

د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۲۷مه د مخکني حکومت يو کارمند له خپل زوی او زوم سره يو ځای د غور ولايت په فيروز کوه ښار کې د طالبانو د استخباراتو له خوا ونيول شو. پر دې شخص داعش ډلې سره د همکارۍ تور و چې له يوې اونۍ وروسته بې ګناه اعلان شو او خوشې شو. همدا راز، يو بل کس چې د مخکني حکومت کارکوونکی و د طالبانو مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د دې ډلې د استخباراتو له خوا د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۳۱مه ونيول شو او درې اونۍ وروسته خوشې شو. طالبانو دا کسان په مودو له برخليک معلومولو پرته توقيف کړی او شکنجه کوي يې. همدا راز، په کندهار ولايت کې د نيول شويو کسانو په منځ کې څلور تنه شپږ مياشتې کيږي چې له برخليک معلومولو پرته او د استخباراتو په زندان کې بنديان دي.

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۲۲مه طالبانو څلور تنه د هيواد د شمال اوسيدونکي په نيمروز ولايت کې داعش سره د همکارۍ په تور ونيول. سيمه ييزو سرچينو ويلي چې طالبانو هغه هيوادوال چې د هيواد له شمال څخه نيمروز ولايت ته راغلي او هلته ژوند کوي تل يې ځوروي.

**همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په مارچ کې طالبانو يو تن د پروان ولايت په «بګرام» ولسوالۍ کې ملي جبهې سره د همکارۍ په تور ونيو چې لا هم په بند کې دی. د دې شخص کورنۍ ويلي چې هغه له هيڅ يوې ډلې سره په اړيکه کې نه و او د طالبانو له مخالفينو سره يې همکاري نه ده کړې.**

د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر پنځمه د طالبانو استخباراتو د بغلان ولايت د خوست ولسوالۍ يو اوسېدونکی د دوی له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور و نيو او زندان ته يې ولېږداوه. هم مهاله، د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۴مه تخار ولايت کې د طالبانو پر يوې پوستې د «ملي مقاومت جبهې» له يو بريد وروسته د دې ولايت اووه تنه اوسېدونکي ونيول شول چې له منځه يې يو کس خوشې شو او پاتې نور ټول په زندان کې شپې تېروي.

**په یو بل مورد کې، په غزني ولایت کې طالبانو یو تن له پکول سره د یو عکس له امله چې پنجشېر کې یې د احمد شاه مسعود له مقبرې سره اخستی و، ونیو او د څلورو شپو لپاره یې په بند کې وساته. یاد کس ویلي چې طالبانو په دې موده کې شکنجه کړی دی.**

په همدې حال، د بادغیس ولایت د «قادس» او «جوند» ولسوالیو څخه درې تنه د طالبانو له مخالفو ډلو سره د اړیکو په تور ونیول چې دوه تنه یې تر اوسه هم د طالبانو په بند کې دي.

## ٤ - د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد

د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د دې راپور موندنې ښیي چې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د شپږو ښځو په ګډون ۲۵۸ تنه هیوادوال په غیر قانوني او خپلسري ډول بندیان شوي دي. پر دې کسانو د وسلې لېږدولو، په حزب التحریر کې د غړیتوب، د امربالمعروف له مقرراتو د اوښتلو، لمونځ ته نه حاضرېدلو، د ږیرې لنډولو، بې حجابۍ او د شرعي محرم نشتوالي تورونه لګیدلي. دا کسان ډېری د امربالمعروف او استخباراتو د ادارو له خوا نیول شوي او نورې ډلې نه رانغاړي. شمېرې ښیي چې د یادو کسانو غیر قانوني او خپلسري نیونې د راپور ورکولو په دې دوره کې پنځه چنده زیاتې شوې دي.

د ۲۰۲۴ کال د می پر ۲۰مه نېټه د غزني ولایت د «خواجه عمري» ولسوالۍ یو اوسېدونکی د طالبانو له خوا ونیول شو. پر دې کس تور دا و چې له سقوط وروسته ورځو کې یې د جمهوریت یو امنیتي سرتیري ته پناه ورکړې وه. د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۱مه نېټه طالبانو څلور ملکی وګړي د غور ولایت په فیروز کوه ښار کې ونیول او څلوېښت ورځې وروسته یې خوشې کړل. همدا راز، په کندهار ولایت کې د طالبانو د امربالمعروف کارکوونکو یو سلمان خلکو ته د ږیرې خریلو له امله د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر ۱۷مه نېټه ونیو او په یوه میاشت بند یې محکوم کړ. په یوه بله پېښه کې د هیواد د شمال په یو ولایت کې د طالبانو د امربالمعروف ادارې مسئول د دې ولایت درې اوسیدونکي سهار لمانځه ته د نه حاضرېدو له امله نیولي او د یوې ورځې لپاره یې بندیان کړي دي. یادو کسانو ویلي چې طالبانو ورسره ناوړه چلند کړی او شکنجه کړي یې دي. د ۲۰۲۴ کال د اپرېل پر ۳۰مه طالبانو یو تن په هرات ولایت کې یو تن د هیواد د فوتسال لوبډلې د بري په مناسبت پر اورو د افغانستان د بیرغ اچولو له امله ونیو. د دې تر څنګ، په غزني ولایت کې د طالبانو د امربالمعروف ادارې شپږ سلمانان د ۲۰۲۴ کال د جنوري پر ۲۵مه د خلکو د ږیرو خریلو له امله ونیول او دوکانونه یې وروتړل. دا کسان درې ورځې د امربالمعروف ادارې په نظارت خونه کې بندیان ؤ.

**همدا راز، طالبانو د لوی اختر په څلورمه ورځ د ۲۰۲۴ کال د جون پر ۱۷مه نېټه د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ ۳۰ تنه اوسیدونکي ونیول. یادو کسانو د طالبانو له اعلان یوه ورځ مخکې اختر لمانځلی و او تور یې د دې ډلې د رهبر د حکم سرغړونه بلل شوې ده. له دې ولسوالۍ څخه سرچینو ویلي چې یاد کسان له یوې اونۍ زیات د طالبانو په بند کې ؤ.**

## د انساني کرامت د حق نقض

انساني کرامت د انسان ذاتي حق او د انسانانو د برابرو حقونو بنسټ ګڼل کیږي. دا حق د انسانانو پر حرمت او شرافت تاکید کوي چې باید په هیڅ شرایطو کې پرې سترګې پټې نه شي. پر همدې بنسټ، انساني کرامت ته درناوی له هر ډول شکنجې، توهین، سپکاوي او ظالمانه چلند څخه د مصئونیت په ګډون د یو شمېر نورو حقونو رعایت ته اړتیا لري.[13] سره له دې، د رواداري موندنې ښیي چې طالبانو یادو موازینو ته له اعتنا پرته د وګړو د انساني کرامت حق په پراخه توګه نقض کړی دی چې د راپور په دې برخه کې یې په تر ټولو مهمو دوه مواردو بحث کوو.

## بندیانو سره ناوړه چلند او شکنجه

له شکنجې څخه خلاصون د وګړو مطلق او نه سلبېدونکی حق دی چې په هیڅ شرایطو کې او په هیڅ توجیه سره نشي نقض کیدلای. د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکو چلندونو او مجازاتو د مخنیوي نړیوال کنوانسیون او د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون د وګړو ربړول او تعذیبول منعه کړي دي.[14] سره له دې، د ترلاسه شویو شواهدو او اسنادو پر بنسټ، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو بندیان شکنجه کړي او ناوړه چلند یې ورسره کړی. خو لکه څنګه چې د رواداري په ګډون د بشري حقونو سازمانونه د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب ځایونو، په ځانګړې ډول ښځینه زندانونو ته لاسرسی نه لري او له بل پلوه دې ته په پام سره چې د شکنجې قربانیان او له بنده خوشې شوي کسان رسنیو او د بشري حقونو بنسټونو ته هر ډول نظر ځرګندولو او معلوماتو ورکولو څخه په کلکه منعه شوي دي، نو رواداري نشي کولای په یاده موده کې د شکنجو د قضیو مشخص ارقام وړاندې کړي. طالبانو خوشې شوي بندیان تهدید کړي چې د هغه څه په اړه چې د آزادۍ د سلب په ځایونو کې یې تجربه کړي له هیچا سره خبرې و نه کړي. که څه هم یو شمېر کسانو رواداري سره په مرکو کې ویلي چې که د طالبانو په زندانونو کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه خبرې وکړي بیا نیول کیږي او شکنجه کیږي.

راپورونه ښیي، چې طالبان د اعتراف اخستلو او د تور اثباتولو د رایجې طریقې په توګه له شکنجې څخه کار اخلي.[15] طالبان تر هغې بندیان شکنجه کوي چې اجباري اعترافاتو ته غاړه کیږدي. دا مسله او د جرم د اثبات د قانوني او مشروعو لارو چارو سره د دوی د عدلي او قضايي کارکوونکو ناشنایي او د التزام نشتوالی د دې سبب شوی چې بیګناه وګړي هم له شکنجې او ناوړه چلند څخه په امان نه وي.

> **د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۲۴مه د غزني ښار په مرکز کې یو تن چې پرې لګول شوی تور یې هم په ډاګه کړی نه دی ونیول شو او سخت شکنجه شو. وروسته معلومه شوه چې هغه یې له بل تن سره د نوم د ورته والي له امله نیولی و او شکنجه شوی دی. د دې کس یو خپلوان ویلي چې: «طالبانو احمد (مستعار نوم) له دوکانه ونیو، لاسونه یې ورته ولچک کړل او یوه توره کڅوړه یې سر ته وراچوله. مونږ وروسته زندان ته لاړو او د ملاقات اجازه مو واخسته، خو احمد ( مستعار نوم) مې چې ډېر شکنجه شوی و مونږ یې و نه پېژندلو. سبا بیا ورغلو د طالبانو یو غړي وویل چې ټاکل شوي وه احمد ( مستعار نوم) دی کابل ته ولېږدوو خو وروسته پوه شوو چې هغه مو له یو بل تن سره په اشتباه نیولی و. ځکه یې زما احمد ( مستعار نوم) خوشې کړ.»**

13 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د اعلامیې مقدمه او لومړۍ ماده.

14 . د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او تحقیروونکو چلندونو او مجازاتو د مخنیوي کنوانسیون،د ۱۹۸۷ کال تصویب شوی، لومړۍ ماده. د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، اوومه ماده.

15 . رواداري، د طالبانو په عدلي او قضایي بنسټونو کې عدالت ته د لاسرسي وضعیت، ۲۰۲۳ جون https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/06/RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf

د نارینه ؤ په تناسلي آلې پورې د کاڼي تړل، د بدن د غوښې شکول او د نوکانو ویستل، وړی ساتل، په سختې ګرمۍ یا یخنۍ کې ساتل، د ټوپک په ډز وېرول، په اوبو کې غوټه کول، د اوبو پایپ د زندانیانو په خوله کې ورکول داسې چې لومړی یې کلک تړي او بیا په زوره اوبه ورکوي، برقي شارټ، لوږ غږ، بې خوبي، وهل ډبول په سوک، لغته او کوټک او قنداق وهل، له چت ځخه ځړول، ساه بندول او په مرګ د زندانیانو او د هغوی د کورنۍ د غړو تهدیدول، ګرم او سوځوونکي لمر ته د بندیانو ساتل او خواړه نه ورکول د طالبانو په زندانونو کې معمول شکنجې دي.

په مخکني حکومت کې یو مدافع وکیل چې په کابل ښار کې نیول شوی و رواداري ته ویلي: «کله چې موږ د خوراکي توکو د اخستو لپاره یو دوکان ته روان وو، څو وسله وال چې مخکې له مخکې هلته ځای پر ځای شوي ؤ زما په خوا راغلل. زما لاسونه یې وتړل او په یو «کرولا» موټر کې یې واچولم. لس ساعته په یوه تیاره کوټه کې وم، وروسته یو ځوک راغلو او په تنده لهجه یې وپوښتلم چې ولې د خپلو دوستانو په منځ کې د طالبانو پر ضد خبرې او تبلیغات کوم. ویل یې ته جاسوس یې، چا سره کار کوې او چا نه پیسې اخلې؟» هغه وایي «دوه میاشتې د طالبانو په بند کې وم او په دې موده کې رنګارنګ شکنجې له برقي شارټونو نیولې تر ځوړندولو او فیزیکي وهلو ټکولو مې تجربه کړي دي.» په همدې حال کې، له بامیان ولایت څخه د شکنجې یو قرباني ویلي چې طالبان بندیانو ته تر ټولو ناوړه شکنجې ورکوي، مثلاً د نارینه ؤ تناسلي آلې پورې کاڼې تړي چې روغتیا یې زیانمنه کړي. داسې موارد هم شته چې د شکنجې قربانیان سخت متضرره شوي دي.

**د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۶مه د مخکني حکومت یو کارکوونکی د غور ولایت په مرکز کې د طالبانو له خوا د غلا په تور ونیول شو. طالبانو هغه داسې شکنجه کړ چې د پښې او ملا له خوا یې ضرر لیدلی او اوس فلج دی. هغه له زندانه تر خوشې کېدو وروسته د خپلې کورنۍ له خوا د علاج او درملنې لپاره ایران ته لېږدول شوی.**

د ۲۰۲۴ کال د جون په ۱۷مه طالبانو د فاریاب ولایت د بلچراغ ولسوالۍ یو کس اوسیدونکی په بې رحمانه ډول شکنجه کړ. د قربانیانو یو خپلوان وایي، چې یوه ورځ یوه ډله طالبان د قرباني کور ته ورغلل او دغه کس یې ونیو او کور ته یې بوتلو. طالبانو بیا پر قرباني ډله ییز جنسي تېری وکړ او د هغې په مقعد کې یې یوه لرګي دننه کړ او فلم یې هم واخیست. دا پېښه وروسته له هغه رامنځ ته شوه، چې په دغه ولایت کې د طالبانو د یوه قوماندان له خور سره د قرباني شوې ټلیفوني اړیکه افشا شوه.

یاد موارد لکه څنګه چې مخکې هم وویل شول، د هغه څه یوه برخه بیانوي چې په ځانګړې ډول د طالبانو د استخباراتو ادارې تر کنټرول لاندې زندانونو کې تیریږي. ځکه د شکنجې قربانیان له رسنیو او حقوق بشري سازمانونو سره له خبرو په کلکه منعه شوي دي. په دې اړوند له هرات ولایت څخه خلکو په مرکو کې ویلي چې طالبان له ټولو بندیانو ژمنه اخلي چې د هغه څه په اړه چې په زندانونو کې یې لیدلي او تجربه کړي، چا ته څه و نه وایي. پر همدې دلیل هغوی ویریږي او له چا سره مرکه نه کوي.

## د بندیانو وژنه

د دې راپور له موندنو سره سم، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۱۲ تنه د طالبانو تر کنټرول لاندې زندانونو کې له سختې شکنجې وروسته وژل شوي دي. لکه، یواځې په غور ولایت کې په تېرو شپږو میاشتو کې څلور تنه بندیان د شکنجې له امله مړه شوي دي. رواداري د تېر کال په لومړیو شپږو میاشتو کې[16] پر قتل د تمامو شویو شکنجو ۱۰ پېښې ثبت کړې وې. د دواړو شمېرو مقایسه ښیي چې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بندیانو وژنې ۲۰ فیصده زیاتې شوې دي.

16 . رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت. ۲۰ ص، آګست ۲۰۲۳ https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf

**د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې په قتل د تمامو شویو شکنجو د قضیو د شمېرو پرتله**

| ۲۰۲۳ کال | زیاتي شوي دي | ۲۰۲۴ کال |
| --- | --- | --- |
| ۱۰ | ٪۲۰ | ۱۲ |

د ۲۰۲۴ کال د جنوري پر دربیمه نېټه یو مخکنی نظامي چې د غور ولایت په «تولک» ولسوالۍ کې د غلا په تور نیول شوی و د هغې ولسوالۍ په نظارت خو نه کې د سختې شکنجې له امله ومړ. په یوه بله پېښه کې د دې ولایت د «پسابند» ولسوالۍ یو اوسېدونکی چې د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر ۱۸مه نېټه نیول شوی و، له زندانه تر خوشې کېدو وروسته د شکنجې او اوښتي ضرر له امله ساه ورکړه. همدا راز، په یاده موده کې په هلمند ولایت کې دوه تنه بندیان د شکنجې په پایله کې ووژل شول او ۱۰ تنه نور په دې ولایت کې له وهلو وروسته روغتون ته ورل شوي دي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، یو شمېر دغه بندیان چې روغتون ته وړل شوي وخیم وضعیت یې درلود.

> **د هرات ښار د اتمې ناحیې یو اوسېدونکی چې د ۲۰۲۴ کال په مې میاشت کې د طالبانو د استخباراتو د ادارې له خوا له خپل کور څخه داعش ډلې سره د همکارۍ په تور نیول شوی و، درې ورځې وروسته یې کورنۍ د مرګ خبر واورېد. د قرباني پلار د دې پېښې په اعتراض کې غوښتل چې د زوی جنازه یې د ولایت سیمه ییزې ادارې ته یوسي خو طالبانو هغه ونیو او او څلور ورځې یې د استخباراتو په نظارت خونه کې بندي کړ. بالاخره هغه په دې شرط چې د زوی جسد به خښبوي او اعتراض به نه کوي، له زندانه خوشې شو.**

په یو بل مورد کې د پروان ولایت د «جبل السراج» ولسوالۍ یو اوسېدونکی چې یو کال مخکې درې ځلې د طالبانو له خوا نیول شوی او هر ځل سخت شکنجه شوی و د اپریل پر ۲۶مه ومړ. د قرباني یو نږدې کس ویلي چې هغه د طالبانو د شکنجې په پایله کې فلج شوی و او بالاخره یې ساه ورکړه. په ورته بل مورد کې، د پروان ولایت د «بګرام» ولسوالۍ یو ملکي شخص چې د طالبانو له خوا نیول شوی او شکنجه شوی و له خوشې کېدو یوه ورځ وروسته ساه ورکړه. د یاد کس کورنۍ ویلي چې طالبانو هغه د وسلې درلودلو په تور نیولی او شکنجه کړی و. هغه په وخیم وضعیت کې له زندانه خوشې شو او په سبا یې ساه ورکړه.

معلومات ښیي چې په تېرو شپږو میاشتو کې د طالبانو د استخباراتو ادارې په نظارت خونو کې د شکنجې له امله د وژنو تر ټولو ډېرې پېښې شوې د ي.

## د طالبانو د زندانونو د څارنې د لارې او مکانیزم نشتوالي

لکه د راپور په مخکنیو برخو چې هم مطرح شوه، دا مهال هیڅ خپلواک بنسټ اجازه نه لري چې د طالبانو تر کنټرول لاندې د نظارت خونو، توقیف خونو او زندانونو په څانګړي ډول د ښځو د آزادۍ د سلب ځایونو څارنه وکړي او نه هم د بندیانو د بشري حقونو وضعیت ته د رسېدو لپاره کوم مشخص میکانیزم شته، د همدې له مخې، هغه څه چې په دې راپور کې مطرح شول، کولای شي په افغانستان کې د شکنجو د قضیو یوه برخه روښانه کړي او د آزادۍ د سلب د ځایونو ناوړه وضعیت بیانوي چې طالبان یې د څارونکو بنسټونو په نشتوالي کې، په څانګړي ډول په ولسوالیو او د استخباراتو په نظارت خونو کې ترسره کوي.

که څه هم په یو شمېر ولایتونو لکه هرات ولایت کې د امربالمعروف محتسبین او په یو شمېر جنوب ختیځ ولایتونو کې د امربالمعروف، عدلیې وزارت او د فرمانونو د څارنې او تعقیب د لوی ریاست د استازو یوه کمېټه کله کله زندانونو ته ځي او د سرچینو د وینا پر بنسټ، د بندیانو لپاره دیني تبلیغ کوي. په کندهار، هلمند او زابل ولایتونو کې «د احکامو او فرمانونو د څارنې او تعقیب لوی ریاست» یواځې د زندان له مسئولینو سره ناستې کوي او له دې هاخوا اجازه نه لري چې بندیانو سره د هغوی د ستونزو په اړه خبرې وکړي.

په همدې حال کې، د ترلاسه شویو اطلاعاتو سره سم، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی (یوناما) هم د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب د ځایونو له همغږۍ او اجازې پرته اغېزناکه څارنه نشي کولای، په یو شمېر ولایتونو کې یې د څارنې اجازه هم نه ده ترلاسه کړې. د بېلګې په توګه په هرات حوزه کې د دې بنسټ سیمه ییز دفتر له ډېرو هڅو سره سره په تېرو دریو کلونو کې تر اوسه نه دی توانېدلی د استخباراتو د نظارت خونې او د دې ولایت د محبس څارنه وکړي. د یوناما کارکوونکو یوازې یو ځل د استخباراتو د اداري له مرستیال سره د هغه د کار په دفتر کې لیدنه کړې او تر اوسه د دې اداري د رئیس په لیدلو نه دي توانیدلي. په دې موده کې، د یوناما کارکوونکو په هرات ولایت کې د محبس کارکوونکو ته دوه ورکشاپونه جوړ کړي خو د زندان د څارنې او بندیانو سره د مرکو اجازه یې نه درلوده. په بامیان ولایت کې هم طالبان د یوناما دفتر ته د څارنې اجازه نه ورکوي؛ خو په پروان ولایت کې یوناما په تېرو شپږو میاشتو کې یو ځل د دې ولایت د زندان له مسئولینو سره ناسته کړې ده.

## د ظالمانه او غیرانساني مجازاتو پلي کول

د دې راپور له موندنو سره سم، طالبانو د راپور ورکولو په دې دوره کې، کم تر کمه ۱۵۱ تنه ډېرى له کوره د تېښتې، له واده بهر اړیکې، غلا، سپکاوي او فریب په تورونو په دُرو وهلي، چې د تېر کال د لومړیو شپږو میاشتو په نسبت دوه برابره زیاتوالی ښیي. سربېره پر دې، د طالبانو محکمو په تېرو شپږو میاشتو کې کم تر کمه د دوو تورنو د قصاص او د دوو ښځو د سنګسار حکمونه صادر کړي چې له واده بهر په اړیکې درلودو تورني دي.

**د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو د لومړیو شپږو میاشتو د شمېرو توپیر**

| ۲۰۲۴ کال | | ۲۰۲۳ کال |
|---|---|---|
| ۱۵۱ | دوه چنده زیاتې شوې دي | ٦۹ |

د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ پر ۱۴مه نېټه د طالبانو محکمو د پنځو ښځو په ګډون ۱۳ تنه په بامیان ولایت کې له واده پرته د رابطې په تور او له کوره د تېښتې په تور په دُرو ووهل. همدا راز، د نیمروز ولایت زرنج ښار کې د طالبانو محکمې د ۲۰۲۴ کال د مې پر ۲۱مه نېټه اته تنه د غلا او د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر خلورمه پنځه نران او یوه بله ښځه په لوګر ولایت کې د اخلاقي فساد او له واده پرته د اړیکې درلودو په تور د خلکو پر وړاندې په دُرو ووهل. په فاریاب ولایت کې هم طالبانو د یوې ښځې په ګډون دري تنه د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۳۱مه په دُرو ووهل او هر یو یې دوه کاله او شپږ میاشتې په بند محکوم کړل. په دې ترتیب، د ۲۰۲۴ کال د مې پر خلور او شپږ نېټو طالبانو د پکتیا ولایت په «احمد آباد» او «وازې» ولسوالیو کې اته تنه د غلا، توهین او اخلاقي فساد په تورونو په عام محضر کې په دُرو ووهل. په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر ۲۹مه په خوست ولایت کې دوه نور کسان د اخلاقي فساد او فریب په تورونو په عام محضر کې په دُرو ووهل شول.

**په کندهار ولایت کې طالبانو پنځه تنه د ۲۰۲۴ کال په مارچ میاشت کې د اخلاقي فساد په تور په دُرو ووهل او هر یو یې په دوه کاله بند هم محکوم کړل. له دې ولایت څخه ترلاسه شوي اطلاعات ښیي چې طالبان هره ورځ خو په غیر علني ډول تورن کسان په دُرو وهي او دا سزا تقریباً د هر ډول جرم لپاره ورکول کیږي.**

محاکم په هغو مواردو کې چې د دُرو وهلو سزا په ښکاره تطبیقوي د مسجدونو د امامانو او د امربالمعروف د مامورینو له لارې خلک د سزا د تطبیق ننداریې ته تشویقوي. سربېره پر دې، د ترلاسه شویو معلوماتو مطابق د طالبانو لپاره د تورن عمر مهم نه دی او هغوی حتا ماشومان هم په غیرقانوني توګه مجازات کوي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د می پر ۱۷مه نېټه یو ۱۳ کلن ماشوم په نیمروز ولایت کې چې تور یې نه و مشخص شوی په فیزیکي توګه مجازات او وروسته امنیتي حوزې ته یوړل شو.

> **سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ پر ۲۲مه د طالبانو محکمې په غزني ولایت کې پر قتل تورنو دوو کسانو باندې د قصاص حکم اجرا کړ. دا سزا په ښکاره توګه په ورزشي سټېډیم کې د سلګونو تنو نندارچیانو په حضور کې تطبیق شوه چې په هغې کې تورن کسان د ټوپک په ډز ووژل شول.**

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ پر ۲۴مه یوه ښځه د بادغیس ولایت په «قادس» ولسوالۍ کې او یوه ښځه په «مقر» ولسوالۍ کې له واده پرته د جنسي اړیکې په تور سنګسار شول.

## د سوله ییزو راټولېدونو ځپل

طالبان د هر ډول اعتراض او انتقاد پر وړاندې لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د زور له تاوتریخجنو لارو چارو څخه کار اخلي. د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو له ۱۹ غونډو څخه کم تر کمه ۱۵ اعتراضي غونډې په تاوتریخوالي سره ځپلې دي او کم تر کمه ۴۶ تنه معترضان یې نیولي او دوه تنه یې وژلي دي. هغه راټولېدوني چې په دې موده کې جوړې شوې دي پنځه یې د طالبانو په ملاتړ او نورې یې د ستونزو او شته کم کاریو په اعتراض کې وې، لکه د تعلیم او تحصیل له حق څخه د ښځو او نجونو محرومول.



انځور: سهراب عمر

دویمه برخه

# د ښځو د بشري حقونو وضعیت

د دې راپور د موندنو له مخې طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې د افغانستان د ښځو او نجونو پر ضد خپلو تبعیضي سیاستونو تعقیبولو ته دوام ورکړی او په بېلابېلو برخو کې یې لا زیات محدودیتونه، په ځانګړي ډول د تعلیم، کار، آزادانه تګ راتګ، روغتیایي خدمتونو او عدالت ته د لاسرسي د حقونو په برخو کې لګولي دي. سره له دې د افغانستان ښځې دا مهال د ژوند تر ټولو سخت شرایط تیروي. ځکه له یوې خوا د حاکمې ډلې د سیستماتیک تبعیض له امله له خپلو بنسټي آزادیو څخه محرومې شوې دي او له بل پلوه، د تاوتریخوالي له بېلابېلو بڼو، ناوړه چلند او ځورونو سره مخامخې دي.



انځور: سهراب عمر

## د تعلیم پر حق د محدودیتونو سختېدل

د تعلیم حق د بشر حقونو نړیوالو اسنادو د وګړو د خورا مهمو حقونو په ډله کې په رسمیت پېژندلی او ښوونیزو او تحصیلي فرصتونو ته د ټولو د برابر لاسرسي پر لزوم یې ټاکید کړی دی.[17] د دې له مخې، د جنسیت پر بنسټ یا په نورو دلایلو له دې حق څخه په برخمنېدو کې هر ډول تبعیض ته قایلېدل له یادو مقرراتو څخه عدول او د بشر حقونو نقض ګڼل کېږي. سره له دې، په افغانستان کې په داسې حال کې چې له زرو ډېرې ورځې کېږي چې نجونې د تعلیم له حق څخه محرومې دي او په دې موده کې له ۱.۴ میلیونو له شپږم ټولګي پورته نجونو[18] څخه زیاتې په ټول هیواد کې له خپل دې انساني حق څخه محرومې شوې دي؛ خو ترلاسه شوې شواهد ښیي چې طالبانو د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې لا ډېر تبعیض او پراخه ځینه کړې ده او داسې هڅه یې کړې چې د ښځو او نجونو پر مخ د تعلیم او تحصیل ټولې لارې وتړي.

**د دې ډلې د استخباراتو او امربالمعروف اداري د راپور ورکولو په دې دوره کې د پټو او انلاین کورسونو په ګډون کم تر کمه ۱۳ ښوونیز مرکزونه چې له شپږم ټولګي پورته یې د نجونو لپاره د زده کړې فرصت برابر کړی و د هیواد په بېلابېلو برخو کې تړلي دي او د دې مرکزونو کم تر کمه ۲۷ تنه مدیران او ښوونکي یې نیولي او بندیان کړي دي.**

د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو کې په غور ولایت کې دوه ښوونیز حضوري او انلاین کورسونه چې له شپږم ټولګي پورته د نجونو لپاره یې د ریاضي او انګلیسي د زده کړو زمینه برابره کړې وه د طالبانو د استخباراتو له خوا په نښه او مدیران یې ونیول شول. طالبانو له یادو کسانو څخه د ژمنتیا له اخستلو وروسته هغوی له زندانه خوشې کړل او کورسونه یې وروتړل. په همدې حال کې، د دې ولایت د پوهنې ریاست یو کارمند د ۲۰۲۴ کال په جنوري میاشت کې له شپږم ټولګي څخه پورته نجونو ته د پټو زده کړو ورکولو له امله د طالبانو له خوا ونیول شو او یوه میاشت وروسته له زندانه خوشې شو.

**په خوست ولایت کې یو سیمه ییز ښوونکی چې په پټه یې نجونو زده کوونکو ته زده کړه ورکوله د استخباراتو د اداري له خوا په نښه او د ۱۵ ورځو لپاره بندي شو. په هلمند ولایت کې هم یو شمېر ښوونیز مراکز د امربالمعروف د سختو محدودیتونو له امله تړل شوي دي.**

په دې توګه، په غزني ولایت کې د ښځو لپاره دوه د خیاطۍ او د آلماني ژبې د زده کړې کورسونه وتړل شول او مسئولان یې ونیول شول. په بامیان ولایت کې هم د روغتیایي علومو یو انستیټیوټ او یو بل ښوونیز مرکز چې نجونو ته یې د زده کړو زمینه برابره کړې وه، د طالبانو له خوا وتړل شول. په دایکندي ولایت کې څلور ښوونیز مرکزنه چې ۱۲ څخه تر ۱۴ کلونو عمر لرونکو نجونو ته یې انګلیسي ژبه ورزده کوله د طالبانو د استخباراتو له خوا و تړل شول او مسئولین یې ونیول شول. له دوی څخه دوه تنه له نقدي جریمې او لیکلې ژمنې ورکولو وروسته له بنده خوشې شول.

همدا راز، د ۲۰۲۴ په فبروري کې د میدان وردګ ولایت په «چک» ولسوالۍ کې طالبانو د نجونو یو دارالمعلمین چې د یونیسف له خوا ملاتړ کېده وتاړه. په دې دارالمعلمین کې ٦۰ نجونې زدکړیالانې په بېلابېلو برخو په زده کړه بوختې وې. سیمه ییزو سرچینو ویلي چې دا مرکز د طالبانو د رهبر د شفاهي فرمان وروسته چې د لوړ قد او لسو کلونو زیات عمر لرونکو نجونو د تعلیم د ممنوعیت په اړه یې ورکړی، بند شوی دی.

17 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۲٦مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، ۱۳مه ماده.

18 .د ملګرو ملتونو علمي، فرهنګي او تعلیمي سازمان (یونسکو)، ۲۱ مارچ، ۲۰۲۴.
https://www.facebook.com/story.php?story_fbid=430658415992287&id=100071443954693&mibextid=oFDknk&rdid=6DZqcti2N59vKT5X

> **طالبانو په یو شمېر ولایتونو کې لکه غزني، پکتیا، پکتیکا، دایکندي، بامیان، خوست، میدان وردگ، ننگرهار او بادغیس کې د ښوونځیو مدیرانو ته په شفاهي بڼه امر کړی چې لوړ قد لرونکو او له ۱۰ کلونو زیات عمر لرونکو نجونو ته که هغه له شپږم صنف ښکته هم وي ښوونځي ته د ننوتلو اجازه ور نکړل شي.**

سربېره پر دې، له کندهار او بادغیس ولایتونو څخه سرچینو رواداري ته ویلي چې د دې ولایت ښځې او نجونې د فن او حرفې د زده کړو په پروگرامونو، روغتیایي، رواني او کورنیو ستونزو ته د رسېدو اړوند د عامه پوهاوي پروگرامونو کې هم د گډون اجازه نه لري او طالبانو په دې ډول پروگرامونو کې د ښځو حضور په کلکه منعه کړی دی.

## د کار له حق څخه د محرومیت دوام

د بشر حقونو د نړیوالو اسنادو له مخې د کار او بوختیا حق ته برابر لاسرسی د وگړو له خورا مهمو انساني حقونو څخه دی چې په برخمنېدلو کې یې د جنسیت او قومي، مذهبي او ژبنیو تعلقاتو پر بنسټ هر ډول تبعیض او استثنا ته قائلېدل د قانون له مخې منعه دي او د بشر حقونو نقض گڼل کیږي.[19] سره له دې، د دې راپور د موندنو پر بنسټ د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ښځو د کار پر حق د سختو محدودیتونو لگولو او د کار په چاپېریال کې د ښځو ځورولو ته دوام ورکړی دی.

> **د ۲۰۲۴ په مې میاشت کې په دایکندي ولایت کې یوې داخلي موسسې د یوې بین المللي موسسې په مالي ملاتړ د ۲۰۰ ښځو لپاره د قالین اوبدلو یوه پروژه پیل کړې وه. له معلوماتو سره سم، د دې پروژې گډونوالو ته د قالین اوبدلو دستگاوې وېشل شوې، او ټاکل شوې وه چې خام مواد هم په واک کې ورکړل شي او د ټرینرانو معاش وټاکل شي. خو طالبانو په دې استدلال چې ښځې له کاره منعه شوي دي یاده پروژه وتړله.**

په ورته یوه پېښه کې په هلمند ولایت کې یوې داخلي موسسې غوښتل چې د مېرمنو لپاره د فیل مرغانو د روزنې ۳۰ فارمونه جوړ کړي، خو د طالبانو د کرنې او اقتصاد ریاستونو له خوا یې مخنیوی وشو. په بلخ ولایت کې یې هم یو ښځینه مارکیټ وتاړه. د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر ۲۰مه د ننگرهار ولایت په «هسکه مېنه» ولسوالۍ کې د امربالمعروف مامورینو دوکاندارانو ته خبرداری ورکړ چې له محرم پرته ښځو باندې څه و نه پلوري او هغوی ته دوکان ته د داخلېدو اجازه ور نکړي. سرچینو ویلي چې که پلورونکي د امربالمعروف له اوامرو سرغړونه وکړي، وهل کیږي او ښکنځل کیږي او دوکانونه یې تړل کیږي.

په همدې حال کې، په هرات ولایت کې یوې سوداگرې ښځې رواداري ته وویل چې د طالبانو د استخباراتو، کار او ټولنیزو چارو، امر بالمعروف او ښاروالۍ ادارو د ښځو د کار د حق اړوند خورا سخت محدودیتونه لگولي دي. پلورونکې ښځې باید د طالبانو له وینا سره سم پوښاک ولري او خپلو دوکانونو ته د نرانو د ورننوتلو اجازه ور نکړي.

> **سربېره پر دې، د غور ولایت یوه اوسېدونکې ښځه چې د خپلې کورنۍ سرپرسته ده او د ښار په مرکز کې «دست فروشي» کوي، ویلي چې طالبان د هرې ورځې په تېرېدو د هغوی لپاره د کار شرایط سختوي. طالبان په بېلابېلو پلمو هغه ځوروي، د بېلگې په توگه «یوه ورځ، د دوه پاکټه (سیمیان) د قیمت په اړه یو مشتري سره په خبرو وم چې یو وسله وال طالب زمونږ پر خوا راغی او ما ته یې وویل چې ته یوه ښځه یې ولې په زوره خبرې کوې او ولې یوه نا محرم کس سره غږېږې؟ هغه راته وویل چې ته اجازه نه لرې له نامحرمو نرانو سره خبرې وکړې. څو ورځې وروسته یو بل وسله وال طالب**

19 . د ملگرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۲۳مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنگي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، شپږمه او اوومه ماده.

**په سپکاوي او تحقیر سره خبرداری راکړ چې له دې وروسته اجازه نه لرې له محرم پرته له کوره راووځې.» هغه وایي زه د کورنۍ سرپرسته یم او مجبور یم کار وکړم چې د خپلو اولادونو لګښتونه پوره کړم.**

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د جون پر درېیمه نېټه د طالبانو د ډلې رهبر یو حکم[20] صادر کړ چې د هغې پر بنسټ د دولت د ټولو ښځینه کارکوونکو معاش ۵۰۰۰ پنځه زره افغانۍ ټاکل شوی دی. معلومات ښیي چې له دې امر وروسته په یو شمېر ولایتونو کې ښځو کارکوونکو همدا معاش ترلاسه کړ او په یو شمېر ولایتونو لکه کندهار کې د ښځو کارکوونکو د معاش اجرا کول په دې فرمان کې د ابهام له امله تعلیق شوي دي. د دې فرمان صدور له کار څخه د ښځو د حذفولو په موخه ګڼل شوی او د ښځو کارکوونکو تر منځ یې سخته نارضایتي او اندېښنې راپارولې دي او لاریونونه هم شوي دي.

له بل پلوه، له هرات ولایت څخه په مرکو کې ویل شوي چې طالبان په وروستیو کې د ښځو خبریالانو جنسي ځورونه کوي. داسې چې د امنیتي حوزو یو شمېر آمرین او د امربالمعروف مامورین د شپې له خوا د ښځو خبریالانو وټساپ ته مسجونه لیږي او زنګ ورته وهي او جنسي ځورونه یې کوي.

## روغتیايي خدماتو ته محدود لاسرسی

روغتیايي خدماتو او مراقبتونو ته اغېزناک لاسرسی د وګړو بل بشري حق دی چې په بین المللي اسنادو او معاهدو کې پېژندل شوی او تضمین شوی دی. له دې حق څخه د جنسیت پر بنسټ یا په نورو دلایلو د خلکو قصدي محروموول په کلکه منعه شوي او غړي دولتونه مکلف دي  چې روغتیايي خدمتونو ته د خلکو د لاسرسي د اسانتیا لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.[21] سره له دې، د رواداري موندنې ښیي چې د راپور ورکولو په دې دوره کې روغتیايي خدماتو ته د ښځو د لاسرسي وضعیت د طالبانو د سختو مقرراتو له امله لا خراب شوی. داسې چې د امربالمعروف اداري د روغتیايي خدماتو وړاندې کوونکو ټولو مرکزونو ته امر کړی چې له محرم پرته ښځې تداوي نه کړي. همدا راز، هغه ښځې چې په دې مراکزو کې کار کوي د امربالمعروف اداري له خوا د حجاب رعایتولو او شرعي محرم په درلودلو مکلفې شوې دي. همدا راز، هغوی باید له نارینو څخه په بېلو خونو کې کار وکړي او له نارینو سره له هر ډول اختلاط څخه ډډه وکړي. دا مساله د واکسیناتورانو او د تغذیې سروې کوونکو په ګډون په روغتیايي مراکزو کې د ټولو ښځینه کارکوونکو لپاره چې ولسوالیو ته سفر کوي الزامي بڼه لري. د طالبانو د امربالمعروف اداري مامورین په ټولو روغتیايي مرکزونو او روغتونونو کې توظیف شوي دي چې د ښځینه کارکوونکو او مراجعونو د حجاب او شرعي محرم درلودلو څخه ډاډ ترلاسه کړي. سره له دې، معلومات ښیي چې په تېرو شپږو میاشتو کې د ښځو کارکوونکو شمېر په روغتیايي مرکزونو کې په ټول هیواد کې د پام وړ کم شوی دی او له امله یې روغتیايي خدماتو ته د ښځو لاسرسی هم خورا محدود شوی دی. په دې منځ کې، په ولسوالیو او کلیو کې وضعیت لا ډېر بد دی.

**د دې راپور د موندنو پر بنسټ، روغتونونه او نور روغتیايي مرکزونه د محرم نه درلودونکو ښځو له درملنې او تداوۍ څخه ډډه کوي. د بېلګې په توګه په غزني ولایت کې یوه ښځه د ۲۰۲۴ کال د جون پر درېیمه نېټه له خپلې ترور سره د درملنې لپاره روغتون ته لاړه؛ خو د روغتون مسئولینو یې له تداوۍ څخه ډډه وکړه او ویې ویل چې باید له شرعي محارمو څخه یو سړی باید له هغې سره واوسي. په همدې حال کې، له بامیان ولایت څخه یو نرس ویلي چې له محرم پرته ښځې په هیڅ ډول شرایطو کې حتا «که زنکندن یې وي» روغتیايي مرکزونو ته د ننوتلو اجازه نه لري.**

20 . د طالبانو اسلامي امارت، د چارو اداري عمومي ریاست، ۲۲۹۹۹ شمېره حکم، ۲۰۲۴ کال د جون درېیمه نېټه.

21 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۲۵مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، ۱۲مه ماده.

هم مهاله، طالبانو د ۲۰۲۴ کال په جنوري کې د روغتیايي مرکزونو د یو مرستندوی بنسټ فعالیت ودراوه. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ لومړی د استخباراتو اداري د دې موسسې په کارونو کې مداخله کوله او وروسته د طالبانو د اقتصاد وزارت هغه منحل کړه او ټول پروګرامونه یې ودرول. د دې بنسټ تر ملاتړ لاندې روغتیايي مرکزونه اوس په نیمه فعال حالت کې دي چې روغتیايي خدماتو ته د زرګونه ښځو پر لاسرسي یې اغېز کړی. په غزني ولایت کې هم د روغتیايي خدماتو ۱۳ مرکزونه د ولسوالیو په کچه د بودجې د کمښت له امله تړل شوي دي.

## د آزادانه تګ راتګ د حق نقض

د دې راپور موندنو ښودلې ده چې د ښځو پر آزادانه تګ راتګ د محدودیت پلي کول د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په بېلابېلو برخو کې سخت شوي دي. داسې چې د امربالمعروف اداري مامورین په ښارونو تفریحي او ورزشي ځایونو، زیارتونو، پلورنځایونو او نورو ځایونو کې حضور لري چې د ښځو د تګ راتګ مخه ونیسي. سره له دې، دا مهال ښځې نشي کولای په رستورانتونو کې ډوډۍ وخوري او له محرم او د طالبانو له وینا سره سم پوښاک درلودلو پرته پلورنځیو ته د سودا لپاره ورشي. د امربالمعروف اداري ټولو پلورنځیو او رستورانتونو ته امر کړی چې له محرم پرته ښځو ته اجازه ور نکړي. همدا راز، موټر چلوونکو ته هم ویل شوي چې له محرم پرته د ښځو له سپرولو په کله ډډه وکړي.

**لکه څنګه چې د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر دربیمه د طالبانو د امربالمعروف مامورینو په غور ولایت کې یوه ناروغه ښځه چې له محرم پرته په یوه ټیکسي کې سپره شوې وه ووهله او موټر چلوونکی یې د یوې شپې لپاره بندي کړ. سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال د مارچ په میاشت کې طالبانو یوه بله ښځه په کندهار ولایت کې په دې تور ونیوله او بندي کړه چې ولې له محرم پرته په ټیکسي کې سپره شوې. په یوه بله پېښه کې د امربالمعروف اداري په یوه خبرتیا[22] کې چې د ۲۰۲۴ کال د جون پر ۲۹مه نېټه خپره شوه، د دایکندي ولایت ښځو او نجونو ته یې امر کړی چې «له کوره د وتلو پر مهال له عربي او اسلامي حجاب څخه استفاده وکړي». امربالمعروف همدا راز خبرداری ورکړی هغه ښځې چې دا امر نه مني سزا به ورکړل شي او بندي به شي.**

معلومات ښیي چې د امربالمعروف مامورین په ښارونو او نورو عمومي ځایونو کې توظیف شوي دي څو هغه ښځې چې د دوی له وینا سره سم پوښاک و نه لري، او یا محرم و نه لري، ونیسي او بندیانې یې کړي. له کندهار ولایت څخه مرکه کوونکو ویلي چې طالبان حتا هغه دوکانداران هم ځوروي چې ښځو ته سودا ورکوي. د یادونې وړ ټکی دا دی چې د طالبانو د امربالمعروف مامورین کله چې ښځې د حجاب یا محرم نه درلودلو له امله نیسي، د هغوی تور ته د خلاقي فساد نوم ورکوي.

سره له دې، د طالبانو د امربالمعروف اداري په تېرو شپږو میاشتو موده کې د افغانستان په بېلابېلو برخو کې ښځې د حجاب او شرعي محرم نه درلودلو له امله د اخلاقي فساد په تور نیولې او بندیانې کړې دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو کې د کابل ښار له دشت برچي څخه ۲۴ ښځې او نجونې د څو ورځو لپاره بندیانې شوې. په دوو نورو پېښو کې د ۲۰۲۴ کال د جون پر پنځمه او د جون پر ۲۳مه د طالبانو د امربالمعروف مامورینو ۱۰ تنه ښځې او نجونې د غور ولایت د فیروز کوه ښار په «لعل و سرجنګل» ولسوالۍ کې د بې حجابۍ په تور د موقت وخت لپاره ونیولې. سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال د جنوري پر ۱۷مه نېټه طالبانو په بامیان ولایت کې ۲۰ ښځې او ځواني نجونې په همدې تور ونیولې. طالبانو د دې ښځو او نجونو له کورنیو ضمانت اخستی او بیا یې هغوی خوشې کړې دي. د ۲۰۲۴ کال د جنوري پر ۱۲مه نېټه د امربالمعروف مامورینو دوه نجونې د غزني ولایت د نوآباد بازار څخه د بې حجابۍ په تور ونیولې

22 . د طالبانو د امربالمعروف وزارت، د مرکز د محتسبینو د آمریت خبرتیا، د ۲۰۲۴ کال د جون ۲۹مه.

او بندیانې یې کړې او همدا راز د ۲۰۲۴ کال د جنوري پر اتمه د غزني ولایت د «جاغوري» ولسوالۍ درې ښځې چې له یو دوکان څخه یې سودا کوله د طالبانو له خوا ونیول شوې او له کورنیو څخه یې د تعهد له اخستلو وروسته خوشې کړې. یو عیني شاهد ویلي چې طالبانو دغه دوه نجونې او یوه زړه ښځه د بې حجابۍ په تور توهین کړې او نیولې دي.

**له بل پلوه، د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر ۱۷-۱۸ نېټو طالبانو په کندهار ولایت کې هغو ښځو ته چې له خپلو کورنیو سره د لوی اختر په ورځ تفریحي پارک ته تلل، د داخلېدو اجازه یې ورنکړه. په دې پارک کې د کورنیو لپاره ځانګړي ځایونه ټاکل شوي دي؛ خو د امربالمعروف مامورینو حتا هغو ښځو ته هم اجازه نه ده ورکړې چې محرم یې درلود.**

په ورته بله پېښه کې له غور ولایت څخه یوې ښځې په مرکه کې ویلي چې د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر ۲۴مه نېټه کله چې له خپل خاوند سره یو تفریحي پارک ته تلله د طالبانو له ممانعت او بد چلند سره مخ شول. هغوی د دې ښځې د خاوند له رټلو سره ویلي چې «هیڅ ښځه عمومي او تفریحي ځایونو ته د تللو اجازه نه لري.» په یو بل مورد کې، د طالبانو د امربالمعروف اداري په بدخشان ولایت کې ښځو ته اجازه نه ده ورکړې چې د نوروز لمانځلو لپاره له کورونو راووځي. حتا دې اداري کورنیو ته خبرداری ورکړی چې ځواني ښځې او نجونې باید د ودونو په مراسمو کې هم شرکت و نه کړي.

**له دې ولایت څخه یوې مرکه کوونکې ویلي چې هغه له نورو ښځو سره د ورور په واده کې د ګډون لپاره بل کلي ته تلله چې د طالبانو له ممانعت سره مخ شول. هغې ویلي چې: «طالبانو مونږ توهین او تحقیر کړو او د ناوې جوړه یې په ځمکه وویشته او د واده په مراسمو کې زمونږ د ګډون مخه یې ونیوله.»**

## عدالت ته د لاسرسي نشتوالی

یواځنی مورد چې ښځې یې د طالبانو په محکمو کې شکایت کولی شي د میراث اړوند قضیې دي. په نورو ټولو برخو کې لکه د جدایۍ په غوښتنه کې، له کورني تاوتریخوالي او ناوړه چلند څخه شکایت، اجباري واده او نور د بشر حقونو د نقض موارد نه منل کیږي، او طالبان ښځې د کورنۍ د نارینو تابعدارۍ او د هغوی غوښتنو او تصمیم منلو ته اړباسي. سره له دې، دا مهال هیڅ حقوقي میکانیزم نشته چې د تاوتریخوالي او بشر حقونو د نقض د قرباني ښځو ملاتړ وکړي او د طالبانو محکمې په ځانګړې ډول د کورني تاوتریخوالي او ناوړه چلند اړوند قضیو ته رسیدګي نه کوي. له بل پلوه د طالبانو له خوا لګول شویو محدودیتونو ته په پام سره چې د ښځو په آزادانه تګ راتګ یې لګولي دي او دا چې ښځې باید له محرم پرته له کوره و نه وځي، د تاوتریخوالي، ناوړه چلند او د بشر حقونو د نقض د بېلابېلو ډولونو دوام ته یې زمینه برابره کړې. ځکه د کورني تاوتریخوالي قرباني ښځې نشي کولای له محرم پرته د طالبانو عدلي او قضایي بنسټونو ته مراجعه وکړي. په همدې دلیل هغوی د دوه چنده تاوتریخوالي او ناوړه چلند سره مخامخې دي.

**د کندهار ولایت د محاکمو یوې سرچینې رواداري ته ویلي چې ښځې خپلو شکایتونو ته د رسېدو لپاره هره ورځ د طالبانو محکمو ته مراجعه کوي؛ خو اکثریت یې د محارمو د نشتوالي له امله تحقیریږي او له محکمو بهر ویستل کیږي. د طالبانو قاضیان له ښځو مراجعینو غواړي چې له خپلو خاوندانو سره راشي، حتا که د هغوی له تاوتریخوالي او ناوړه چلند څخه هم شکایت لري.**

رواداري داسې قضیې مستندې کړې دي چې ښیي که چېرې طالبانو ته منسوب کسان د ښځو د بشري حقونو د نقض مرتکب شوي وي، په هیڅ وجه ورته رسیدګي نه کوي. د بېلګې په توګه د تاوتریخوالي یو قرباني د هرات ښار څخه ویلي چې خاوند یې په مخدره توکو روږدی دی او خپلو دوستانو سره د جنسي اړیکې لپاره یې تشویقوي. هغه چې له دې وضعیته تنګه راغلې وه د طالبانو عدلي او قضایي بنسټونو ته یې شکایت وکړ. خو د دې بنسټونو مسئولینو د دې مېرمنې شکایت تهمت وګڼلو او ویلي یې دي چې «خاوند دې

کلونه د طالبانو د نورو ځواکونو تر څنګ د جمهوریت پر ضد جنګېدلی او ته نشې کولای له هغه شکایت او د بېلتون غوښتنه وکړې».
د کابل ښار څخه یو بل قرباني ویلي: «مېړه مې طالبانو سره کار کوي او ما سره تاوتریخجن چلند کوي، څو ځل یې وهلې ټکولې یم، یوه ورځ یې د سر ویښتان را وخریل او نوکان یې راوویستل. څکه مې د طالبانو یوې امنیتي حوزې ته مراجعه وکړه خو هغوی ما ته د شکایت د ثبت اجازه رانکړه او و یې ویل باید بل ځای ته لاړه شم.»

سربېره پر دې، داسې ادعاوې هم شته چې د طالبانو عدلي او قضايي بنسټونو ته مراجعه کوونکې ښځې جنسي ځورونې سره مخ کيږي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال په لومړیو کې په کندهار ولایت کې د طالبانو یو قاضي له یوې ښځې سره د جنسي اړیکې په تور په درې کاله تنفیذي حبس محکوم شو. معلومات ښيي چې دې قاضي له خپل وظيفوي صلاحيت څخه په ناوړې ګټې اخستنې یوه ښځه جنسي اړیکې ته مجبوره کړې وه چې دا قضیه د واقعیت خلاف «زنا» وبلل شوه او مرتکب هم د ابتدایه محکمې حکم پرته له اعتراضه ومانه. البته بله مهمه نکته دا ده چې د طالبانو محکمې په دې ډول قضیو کې ډېری مهال په عام محضر کې د دُرو وهلو سزا ورکوي؛ خو په دې ځانګړي مورد کې هغوی په عدلي او قضايي بنسټونو کې د فساد د پټولو په موخه د دې قضيې تورن يواځې په بند محکوم کړ.

**سربېره پر دې د طالبانو د امربالمعروف ریاست په کندهار ولایت کې د ۲۰۲۴ کال د مارچ له میاشتې راپدېخوا کم تر کمه اووه ښځې د اخلاقي فساد په تور یا د کورني تاوتریخوالي او ناوړه چلند له امله په خپله نظارت خونه کې ساتلې دي. سره له دې چې د دې نظارت خونې ټول کارکوونکي نارینه دي، د دې ښځو د جنسي ځورونې ادعاوې هم موجودې دي.**

دريیمه برخه

# د متضرريدونکو قومي او مذهبي ډلو وضعیت

**د دې راپور موندنو ښودلې چې طالبان د دولتي خدماتو په وړاندې کولو او د ملي سرچینو او امکاناتو په وېش کې تبعیضي چلند لري او د دولتي ادارو کارکوونکي د ایډیولوژکو، قومي، ژبنیو او مذهبي ځانګړنو پر بنسټ استخداموي یا لري کوي. همدا راز، د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبان بېلابېل مذهبي افکار او عقاید ځپي او د هغوی د مذهبي مراسمو، اعمالو او مناسکو پر اجرا یې سخت محدودیتونه لګولي دي چې د راپور په دې برخه کې پرې بحث کیږي. البته هغه څه چې په راتلونکو کرښو کې راځي، د ۲۰۲۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو دورې پورې اړه لري.**



انځور: سهراب عمر

## د دولتي خدماتو په وړاندې کولو قومي او مذهبي ډلو سره تبعیض

له تبعیض څخه مصئونیت او له نورو وګړو سره برابري د انسانانو له لومړنیو حقونو څخه دي. د ملګرو ملتونو سازمان منشور او د بشر حقونو نور نړیوالو اسناد غړي دولتونه دې ته ژمن کړي دي چې د بشر حقونه، او د ټولو لپاره بنسټي آزادۍ له نژادي، جنسي، ژبني یا دیني تبعیض پرته ډاډمن کړي. یاد اسناد د ناروا تبعیضاتو له منځه وړلو او په ټولو مادي او معنوي برخو کې د ټولو لپاره د عادلانه امکاناتو د ایجاد پر اړتیا تاکید کړی دی.[23] سره له دې، طالبانو په افغانستان کې د واک ترلاسه کولو وروسته مخکنی اساسي قانون چې د دې هیواد د ټولو اوسېدونکو حقونه او آزادۍ یې په برابر ډول او له قومیت، ژبې او مذهب پرته تضمین کړې وې لغوه کړ، او په دې موده کې یې د بشر حقونو هغو بین المللي اسنادو ته چې افغانستان ورسره تړلی دی، تعهد او ژمنتیا نه ده ښودلې. په همدې دلیل بېلابېلې قومي او مذهبي ډلې د مخه نیوونکو حقوقي میکانیزمونو په نشتوالي کې او هم د حاکمې ډلې د تبعیضي چلند له امله په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي برخو کې څنډې ته شوي دي او دولتي خدمتونو، سرچینو، فرصتونو او ملي امکاناتو ته له منصفانه لاسرسي څخه محروم شوي دي.

د دې راپور موندنې ښیي چې طالبان د عمومي خدماتو په وړاندې کولو، کاري فرصتونو ته په لاسرسي، د انکشافي پروژو تطبیق، بشړپالو مرستو، د امکاناتو او ملي سرچینو وېش کې تبعیض کوي او په دې ترتیب قومي او مذهبي متضرربېدونکې ډلې نشي کولای یادو فرصتونو او سرچینو ته په برابر او منصفانه ډول لاسرسی ولري.

**د بېلګې په توګه، طالبان په غور ولایت کې په هغو سیمو کې چې هزاره او شیعه هیوادوال ژوند کوي، د انکشافي پروژو د تطبیق او مرستو د وېش مانع ګرځیدلي. په دې کې، د «رضاها» سیمه چې د غور ولایت په مرکز کې ده او د «دولتیار» ولسوالۍ جنوب لور ته کلي چې اوسیدونکي یې ډېری تاجکان دي، د «لعل و سرجنګل» ولسوالي او نورې سیمې چې شیعه او هزاره هیواد وال هلته ژوند کوي په ټېرو درې کلونو کې په قصدي ډول له بشردوستانه مرستو او انکشافي پروژو او نورو ملي سرچینو څخه لرې ساتل کیږي. په بدخشان ولایت کې هم طالبانو په هغو سیمو کې چې هلته د اسماعیلیه مذهب پیروان ژوند کوي، هیڅ انکشافي پروژه یې نه ده تطبیق کړې او په دې ترتیب هغوی یې له دولتي خدماتو څخه په تبعیضي ډول محروم کړي دي.**

په فراه کې هم طالبان د امکاناتو او انکشافي پروژو په وېش کې تبعیضي چلند لري او د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، ډېری مهال په هغو سیمو کې د موسسو د فعالیت خنډ ګرځي چې هلته شیعه هیوادوال ژوند کوي.

په نیمروز ولایت کې طالبان د سرچینو په وېش او د ملي پروژو په تطبیق کې هغو سیمو ته چې بلوڅان او شیعه هیوادوال هلته ژوند کوي تبعیضي چلند لري او دا پروژې هغو ولسوالیو او سیمو ته وړي چې خپله هلته ژوند کوي او یا مخکې د دوی د راټولېدو او فعالیت ځای و. حتا اوبه او برېښنا، د کور کرایه او روغتیایي لګښتونه په دې سیمو کې وړیا دي. خلکو په مرکو ویلي چې په همدې دلیل د حاکمې ډلې تبعیض ته په کتو په تېرو درې کلونو کې د قومي او مذهبي لږکیو اړوند ډېر شمېر کسان له دې ولایت څخه له افغانستانه بهر تللي او مهاجر شوي دي او یو شمېر خلکو حتا خپل کور او ملکیت پلورلی.

23 . د ملګرو ملتونو سازمان منشور، د ۱۹۴۵ کال تصویب شوی، درېیم بند، لومړۍ ماده، ج بند،، ۵۵مه ماده او د درېیمې مادې نهم بند. د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، لومړی او دویم بند، دویمه ماده.

په بامیان، دایکندي او غزني ولایتونو کې هم طالبان د بشرپالو مرستو په وېش، د انکشافي پروژو په تطبیق، د سرچینو تخصیص او ملي فرصتونو کې تبعیضي لید لري. له غزني ولایت څخه سرچینو ویلي چې په تېرو درې کلونو کې هیڅ انکشافي پروژه په هزاره مېشتو ولسوالیو کې نه ده تطبیق شوې او هم په دایکندي کې طالبانو ټولو موسسو ته امر کړی چې خپلې پروژې «ګیزاب» ولسوالۍ کې چېرې چې د هغوی د راټولېدو او نظامي فعالیت یو مرکز و، تطبیق کړي.

له بل پلوه، طالبانو په وروستیو کې اعلان کړی و (فوټ نوټ) چې د دې ډلې رهبر د سیکانو او هندوانو د ځمکو د بېرته اخستلو فرمان صادر کړی او په دې برخه کې کمیسیون هم رامنځته شوی، خو تر اوسه د دې کمیسیون د کار د پایلو په اړه معلومات په لاس کې نشته.

## په استخدام کې تبعیض

د ټولو لپاره د کار د حق تضمین او په پایله کې یې د کار د منصفانه شرایطو رامنځته کول، د بوختیا د امنیت تامین، د قومي، ژبنیو او مذهبي ځانګړنو پر بنسټ د کارکوونکو استخدام او لرې کولو څخه ډډه کول هغه موارد دي چې د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې تصریح شوي دي. سره له دې، هغه کسان چې په فکري لحاظ د طالبانو له ایډیولوژیک بهیر سره همغږی نه وي، او په ځانګړي ډول قومي او مذهبي لږکي نشي کولای د هغوی تر کنټرول لاندې په دولتي ادارو کې، خاصکر په تصمیم نیونکو چوکې کې استخدام شي. طالبانو د دې اقلیتونو اړوند کارکوونکي په ډله ییز ډول له دولتي ادارو څخه شړلي او په تېرو درې کلونو کې یې خپل د باور وړ کسان قانوني شرایطو او الزاماتو ته له پاملرنې پرته استخدام کړي او بېلابېلو دولتي ادارو کې ځای پر ځای کړي دي. د بېلګې په توګه په هغو ولایتونو او ولسوالیو کې چې قومي او مذهبي اقلیتونه ژوند کوي، طالبان هغوی ته په دولتي ادارو او بنسټونو کې د ګډون فرصت نه ورکوي.

**له غور ولایت څخه مرکه کوونکو ویلي چې دې ډلې په وروستیو کې د الکترونیکي تذکرې د وېش مرکز کارکوونکي چې تاجیک او هزاره هیوادوال ؤ، په ډله ییزه توګه له دندو ګوښه کړي دي.**

**په نیمروز ولایت کې هم طالبانو دولتي ادارې په قومي او مذهبي اقلیتونو پورې د تړلو کارکوونکو څخه تصفیه کړې دي او په بېلابېلو پلمو هغوی ځورولي او له دندو ګوښه کوي. څنګه چې دا مهال هیڅوک د سیمه ییزې ادارې د تصمیم نیونو په کچه له قومي او مذهبي اقلیتونو څخه نشته. له دې ولایت څخه سرچینو ویلي چې مخکې د یو شمېر دولتي ادارو مسئولین شیعه مذهبه ؤ خو اوس حتا یو تن له هغوی څخه نه دی پاتې.**

په تخار ولایت کې هم د ټولو قومي او مذهبي ډلو لپاره د ګډون فرصت نشته او د دولتي ادارو د کارمندانو په استخدام کې د طالبانو معیار د مرکه شویو په وینا، «حنفي مذهب او د طالبانو په ډله کې غړیتوب» دی. په هرات او غزني ولایتونو کې هم طالبانو په قومي او مذهبي اقلیتونو پورې تړلي کارکوونکي، چې د جمهوریت له دورې څخه یې په دولتي ادارو کې کار ته دوام ورکاوه، په بېلابېلو پلمو ځورول شوي او له دندو شړل شوي دي.

**د بدخشان ولایت په ٦ ولسوالیو کې چې غوڅ اکثریت یې د اسماعیلیه مذهب پیروان دي له هغوی څخه حتا یو تن د یادو ولسوالیو په دولتي ادارو کې نشته. همدا راز، په نورو څلورو ولسوالیو کې چې هلته اسماعیلیان د پام وړ نفوس لري په دولتي ادارو کې حضور نه لري.**

په دایکندي، غزني او بامیان ولایتونو کې هم طالبانو ډله ییزې تصفیې ته لاس اچولی او د دولتي ادارو مسئولان یې د خپلو کسانو له منځه استخدام کړي دي. همدا راز، په کندهار ولایت کې په قومي او مذهبي اقلیتونو پورې اړوند وګړي له دویم بست څخه پورته نشي کولای استخدام شي.

## په مذهبي آزادیو محدودیت لګول

د بشر حقونو له نړیوالو اسنادو سره سم مذهبي آزادي د عقیدې آزادي او د دیني تعلیماتو او مراسمو د اجرا آزادي تضمینوي.[٢٤] لکه څنګه چې د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق په فردي او جمعي ډول د مذهب یا اعتقاداتو د څرګندولو او په ښکاره یا په پټه او د عباداتو، آدابو، اعمالو او مذهبي تعلیماتو په ترسره کولو کې آزادیو باندې تاکید کړی دی.[٢٥] همدا راز، یاد سند اعلان کړې ده چې نژادي، قومي او دیني اقلیتونو پورې اړوند کسان حق لري په خصوصي یا عمومي ډول، آزاد، له هر ډول مداخلې او تبعیض پرته، له خپل خاص فرهنګ څخه برخمن شي، خپل دین باندې اعتراف وکړي، پر هغې عمل وکړي او له ځانګړې ژبې څخه استفاده وکړي.[٢٦] سره له دې طالبانو واک ته له راستنېدو وروسته، بېلابېل مذهبي افکار او عقاید په پرله پسې توګه ځپلي او د هغوی مذهبي آزادۍ یې محدودې کړې دي. لکه د پوهنتونونو او مکتبونو له تعلیمي او تحصیلي نصاب څخه یې د جعفري فقهې تدریس حذف کړی دی. د ۲۰۲۴ کال د جون پر شپږمه، په بامیان ولایت کې د طالبانو د معارف ریاست د ولایت ټولو ښوونځیو ته امر کړی چې د جعفري فقهې مضمون د نویو کتابونو تر چاپېدو راټول کړي.[٢٧] سربېره پر دې، طالبانو واک ته د رسېدو په لومړیو میاشتو کې د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون لغوه کړ او له خپلو محاکمو یې د شیعه مذهب ټول قاضیان لرې کړل.[٢٨] دا مهال، د شیعه هیوادوالو د شخصیه احوالو اړوند ټولې قضیې د حنفي فقهې پر بنسټ حل و فصل کیږي. دا هغه مساله ده چې د جعفري مذهب د پیروانو تر منځ د اندېښنې او ستونزو سبب شوې.

> **په دې مواردو کې د کندهار ولایت یو شمېر شیعه هیوادوالو رواداري سره په خبرو کې د اندېښنې څرګندونه کړې چې د طالبانو په محاکمو کې هیڅ شیعه قاضي نشته او د هغوی دعوې چې د شخصیه احوالو اړوندې دي، د حنفي فقهې پر بنسټ حل و فصل کیږي. په همدغې دلیل هغوی اړ دي چې غیر رسمي مکانیزمونو ته مراجعه وکړي.**

له بل پلوه، حاکمې ډلې د شیعه هیوادوالو د مذهبي مراسو په ترسره کولو محدودیت لګولی. له هرات ولایت څخه سرچینو ویلي چې شیعه هیواد وال باید له هر ډول پروګرام جوړولو مخکې طالبانو سره مشوره وکړي او اجازه یې واخلي. وروستی تصمیم طالبان نیسي چې اجازه ورکړي که نه. په همدې اړه د بادغیس ولایت د شیعه هیوادوالو د یو مسجد خطیب ویلي چې «واک ته د طالبانو له راستندېدو څخه وروسته نشي کولای خپل مذهبي پروګرامونه په آزادانه توګه جوړ کړي.»

همدا راز طالبانو په ټول هیواد کې د «محرم» او «عاشورا» د مراسمو په جوړولو محدودیت وضعه کړی او عزادارانو ته له مسجدونو څخه د وتلو او له لاډسپیکر څخه د ګټې اخستو اجازه یې نه ده ورکړې.

> **په غزني ولایت کې د طالبانو د والي مرستیال د ۲۰۲۴ کال په جولای کې له شیعه عالمانو سره په یوه ناسته کې ویلي چې په محرم او عاشورا کې عزاداري بدعت دی او باید په عمومي ځایونو کې و نشي. په همدې دلیل، د محرم له اوومې**

24 .د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، اوومه ماده.
25 .د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، ۱۸مه ماده.
26 . هماغه سرچینه، لومړۍ ماده ۲۷.
27 . د بامیان ولایت د معارف ریاست، د ښوونکو د روزنې او عمومي تعلیماتو آمریت، د ساینس د مرکز عمومي مدیریت، ۱۵۳۵ شمېره مکتوب، د ۲۰۲۴ کال د جون شپږمه.
28 . رواداري، عدالت ته د لاسرسي وضعیت، ۲۰۲۳ جون. https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/06/RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf

**شخه طالبانو د دې ولايت د مرکز په ځينو برخو کې د مسجدونو لاوډسپکرونه بند کړي او خلکو ته بهر ته د وتلو اجازه نه ده ورکړې.**

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۰مه د غزني ولايت د «خواجه عمري» ولسوالۍ په «ده نهال» کلي کې طالبانو شيعه هيوادوالو ته اجازه نه ده ورکړې چې خپل مذهبي مراسم جوړ کړي. له بل پلوه، طالبان په بېلابېلو پلمو د شيعه مذهب پيروان ځوروي. لکه د ۲۰۲۴ کال د اپرېل پر ۲۱مه نېټه د نيمروز ولايت په زرنج ښار کې استخباراتو او د حج او اوقافو رياست د اهل تشيعو د مرکزي جامع مسجد مسئولين د طالبانو له اجازې پرته د اختر د لمانځه ترسره کولو او مالي فساد په تور ونيول چې ۴۸ ساعته وروسته له زندانه خوشې شول. همدا راز، له غور ولايت شخه خلکو په مرکو کې رواداري ته ويلي چې طالبانو شيعه مذهبه هزاره هيوادوال په تبعيضي ډول د حج له پروسې شخه محروم کړي دي.

**په نيمروز ولايت کې طالبانو اعلان کړی چې د سني مذهبه نجلۍ واده له شيعه مذهب سړي سره جواز نه لري خو که سني سړی له شيعه مذهبه ښځې سره واده کوي مانع نشته.**

## اسماعيلي شيعه هيوادوالو باندې په جبر د مذهب بدلول او د حنفي فقهې ښوونه

د دې راپور موندنو ښودلې چې طالبانو په بدخشان ولايت کې اسماعيليه شيعه هيوادوال اړيستلي چې خپل مذهب بدل کړي او هغوی ته د حنفي فقهې زده کړه ورکوي. هغوی دا مهال اجازه نه لري چې خپل مذهبي مناسک او تعليمات ترسره کړي.

**لکه له دې ولايت شخه سرچينو ويلي چې د طالبانو د امربالمعروف اداري په «زيباک، اشکاشم، شغنان، واخان، جرم، يمګان» ولسواليو او د «نسي درواز» ولسوالۍ په ځينو سيمو کې د اسماعيلي مذهب پيروانو ته مدرسې فعالې کړې دي چې پکې حنفي فقهه شيعه اسماعيليه هيوادوالو ته په زوره ورزده کيږي. طالبانو اسماعيليان اړيستلي دي چې خپل اولادونه دې مدرسو ته وليږي.**

د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ په هره ديني مدرسه کې ۱۰۰ ته تر ۲۰۰ هلکانو او نجونو ته چې د شيعه اسماعيليه کورنيو شخه دي په زوره زدکړه ورکول کيږي. سرچينو همدا راز ويلي چې طالبانو د مذهب بدلولو ته د اسماعيليه مذهب د پيروانو په زوره اړيستلو اړوند د راپورونو له خپربدو وروسته طالبانو دغه مدرسې جوړې کړې دي، او په دې اړه تېر کال د «شغنان» ولسوالۍ لپاره د طالبانو د پوليسو قوماندان په يو تلفوني اړيکه کې خپل يو همکار ته ويلي چې «د اسماعيليه مذهب پيروان د اسلام له دايرې بشپړ وتلي دي او بايد د نجات لپاره يې د حنفي فقهې مدرسې جوړې شي.» همدا راز، د اسماعيليه شيعه هيوادوالو په زوره د مذهب بدلولو ډېر موارد شته او د سرچينو په وينا دا موضوع ډېره کمه عمومي کيږي.

هم مهاله، د طالبانو د امربالمعروف اداري د «شغنان» او «اشکاشم» ولسواليو اسماعيليه مشران احضار کړي او هغوی ته يې خبرداری ورکړی چې د دې مذهب د پيروانو لپاره د مسجد او مذهبي ځايونو له جوړولو ډډه وکړي.

شلورمه برخه

# پایله او وړاندیزونه



انځور: سهراب عمر

## پایله

د راپور ورکولو په دې دوره کې طالبانو د بشر حقونو پراخ نقض ته په بېلابېلو برخو کې دوام ورکړی. لکه د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي، مدني فعالان، خبریالان او د بشر حقونو مدافعین په سیستماتیک ډول وژل شوي، نیول شوي شکنجه شوي او تري تم شوي دي. همدا راز، ښځې دا مهال له خپلو لومړنیو بشري حقونو او آزادیو څخه لکه تعلیم، د کار حق، آزادانه تګ راتګ او روغتیایي خدمتونو ته لاسرسي څخه محرومې دي، او طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې نه یواځې د ښځو پر وړاندې په خپلو تبعیضي سیاستونو کې انعطاف نه دی ښودلی بلکې لا ډېر سخت محدودیتونه یې وضعه کړي دي.

له بل پلوه، متضرربېدونکې قومي او مذهبي ډلې په قصدي توګه دولتي خدماتو او ملي امکاناتو ته له برابر لاسرسي څخه لرې ساتل شوي دي او په دې ترتیب د دولتي ادارو کارکوونکي ایډیالوژیکو، مذهبي قومي او ژبنیو ځانګړتیاوو ته په پام سره استخدامېږي او ګوښه کیږي. په دې منځ کې په زوره اسماعیلیه شیعه هیوادوالو د مذهب بدلولو ته اړیستل او نورو مذاهبو ته د فقه ښوونه د بشر حقونو تر ټولو سخت او بوږنوونکی نقض دی چې طالبانو د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ترسره کړی دی.

سربېره پر دې، او مخکې ویل شویو مواردو ته په کتو، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت په اندېښمنوونکې توګه خراب شوی چې ورته رسېدنه د نړیوالې ټولنې د فعال او اغېزناک نقش لوبولو ته اړتیا لري، او په ځانګړي ډول د بشر حقونو او نورو متضرربېدونکو ډلو لکه ښځو، قومي او مذهبي اقلیتونو، د مخکني حکومت کارکوونکو، مدني فعالانو، د بشر حقونو فعالانو، خبریالانو او نورو هیوادوالو د ملاتړ او د بشر حقونو د تضمین لپاره د عملي اقداماتو ترسره کول اړین دي.

## وړاندیزونه

رواداري په افغانستان کې د بشر حقونو د ناوړه وضعیت ننګونو ته د رسېدو لپاره لاندې موارد نړیوالې ټولنې او حاکمو چارواکو ته وړاندیزوي.

### حاکمو چارواکو ته:

- رواداري له حاکمو مقاماتو غواړي چې خپلو قانوني مکلفیتونو ته په کتو د هغو بین المللي اسنادو مندرجو مقرراتو او مفادو د درناوي لپاره چې افغانستان ورسره ملحق شوی دی، له دې زیات د افغانستان د خلکو د اساسي حقونو د نقض مرتکب نه شي.
- ښځې د افغانستان د ټولنې نیم نفوس دی او له خپلو بنسټي حقونو او آزادیو څخه د دوی محرومول د دې هیواد د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي پراختیا پر پروسې نه جبرانیدونکي ضررونه واردوي. د همدې له مخې له حاکمو مقاماتو غواړو چې د افغانستان د ښځو د انساني آزادیو په منلو سره د ښځو پر وړاندې خپلو تبعیضي سیاستونو ته د پای ټکی کیږدي.
- له حاکمو مقاماتو غواړو چې د افغانستان ماشومانو ته د شته متوجې تهدیدونو د له منځه وړلو لپاره او په ځانګړي ډول په دې هیواد کې د ماشومانو د ژوند د ساتلو لپاره د مخکنیو جګړو د پاتې شویو چاودیدونکو توکو درلودونکو سیمو د پاکولو لپاره عملي اقدامات ترسره کړي او په دې برخه کې بین المللي سازمانونو سره همکاري وکړي.
- له حاکمو مقاماتو غواړو چې د مخکني حکومت د کارکوونکو، د بشر حقونو د مدافعانو، او د خپلو مخالفینو او منتقدینو له محاکمې پرته وژلو څخه لاس واخلي او د هغوی د امنیت او مصئونیت د تامین لپاره اقدامات ترسره کړي او هم د نامعلومو کسانو له خوا د مرموزو او له محاکمې پرته وژنو ته د رسېدنې لپاره د خپلو اقداماتو په اړه راپور او معلومات وړاندې کړي.
- د بشر حقونو د بین المللي اسنادو له مخې د شکنجې سیستماتیک اعمال او د بندیانو وژل د بشر حقونو د نقض او د جنایت

غښتلی مصداق دی. نو له حاکمو مقاماتو غواړو چې دې وضعیت ته د پای ورکولو تر څنګ، له حقوق بشري سازمانونو سره د زندانونو د څارنې لپاره همکاري وکړي.

- له حاکمو مقاماتو غواړو چې د قومي او مذهبي متضرربدونکو ډلو پر وړاندې خپلو تبعیضي سیاستونو ته پای ورکړي او د افغانستان د ټولو خلکو حقونو ته درناوی وکړي.

## نړیوالې ټولنې ته:

- د طالبانو تر کنټرول لاندې افغانستان کې د بشر حقونو پراخ او سیستماتیک نقض ته پای ورکول، له مجازاتو څخه د معافیت له فرهنګ سره پرله پسې مبارزه، او په دې هیواد کې حاکمه ډله ځوابویونکې کول غواړي. د همدې له مخې، له نړیوالې ټولنې غواړو چې د بین المللي میکانیزمونو په چوکاټ کې د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو د شورا په ګډون، جزایي بین المللي محکمه، د عدالت بین المللي محکمه او نور قانوني ابزار او د حساب ورکولو میکانیزمونه د طالبانو د ځواب ویونکې کولو لپاره وکاروي او په پایله کې د افغانستان د خلکو د بشري حقونو د نقض د پای ته رسولو لپاره عملي او اغېزناک اقدامات ترسره کړي.
- له نړیوالې ټولنې غواړو چې د مخکني حکومت د کارکوونکو او د هغوی د کورنیو د امنیت او مصئونیت لپاره چې له غچ اخستونکو او تاوتریخجنو بریدونو سره مخ دي، حاکمو چارواکو باندې فشار راوړي او د قربانیانو د کورنیو لپاره د شکایت د ثبت زمینه برابره کړي.
- له ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې د دې سازمان د منشور په چوکاټ کې او نورو بین المللي اسنادو ته په کتو، د افغانستان مسالې سره په چلند کې د ښځو او قومي او مذهبي اقلیتونو بشري حقونه او انساني آزادۍ د خپلو تصمیم نیونو په لومړیتوبونو کې راولي.
- د ملګرو ملتونو سازمان څخه همدا راز غواړو چې د طالبانو تر کنټرول لاندې د زندانونو په ځانګړې ډول د ښځو د آزادۍ د سلب د ځایونو د وضعیت په اړه، د شکنجې او د بندیانو د وژنې قضیې په هراړخیز ډول وڅیړي او خپلې موندنې د افغانستان له خلکو، رسنیو او حقوق بشري سازمانونو سره شریکې کړي.
- له حقوق بشري سازمانونو او ملي او بین المللي رسنیو غواړو چې په افغانستان کې د بشر حقونو د بوږنوونکي وضعیت ابعادو ته انعکاس ورکړي او د شته ستونزو د رسیدګۍ لپاره په دوامدارې همغږۍ او ملاتړ کې دادغوښتنه وکړي.

# سرچینې


- د ملگرو ملتونو سازمان منشور، د ۱۹۴۵ کال تصویب شوی.
- د ملگر ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، د ۱۹٦٦ کال ډسامبر ۱٦مه.
- د ملگرو ملتونو عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال د ډسامبر پر ۱۰مه تصویب شوي.
- د ملگرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د اجباري تري تم کولو پر وړاندې د ټولو وګړو د ملاتړ بین المللي کنوانسیون، د ۲۰۱۰ کال تصویب شوی.
- د ملگرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د شکنجې او ټولو ظالمانه او غیر انساني او سپکوونکو سزاګانو د مخنیوي بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۸۷ کال تصویب شوی.
- د ملگرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنگي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال د ډسامبر پر ۱٦مه تصویب شوی.
- د ملگرو ملتونو سازمان عموي غونډه، د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۷۹ کال د ډسامبر پر ۱٦مه تصویب شوی.
- د بین المللي جزایي محکمې اساسنامه، د ۱۹۹۸ کال تصویب شوې.
- رواداري، د طالبانو په عدلي او قضایي بنسټونو کې عدالت ته د لاسرسي وضعیت، ۲۰۲۳ جون. https://rawadari.org/wp-content/uploads/۲۰۲۳/۰٦/RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf
- رواداري، محدودیت، ځپل او سانسور، په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د بیان د آزادۍ وضعیت، می ۲۰۲۴. https://rawadari.org/wp-content/uploads/۲۰۲٤/۰٤/RW_PressFreedom_Dari.pdf
- رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت.. آگست ۲۰۲۳. https://rawadari.org/wp-content/uploads/۲۰۲۳/۰۸/RW_AFGHumanRights۲۰۲۳-Dari.pdf
- رواداري، محدودیت، ځپل او سانسور، په ۲۰۲۳ کال کې په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت ، مارچ ۲۰۲۴. https://rawadari.org/wp-content/uploads/۲۰۲٤/۰۳/RW_Annual_Report_۲۰۲۳_Dari.pdf
- د ملگرو ملتونو سازمان علمي، فرهنگي او ښوونیز سازمان (یونسکو) ۲۱ مارچ، ۲۰۲۴. https://www.facebook.com/story.php?story_fbid=۷۸۲۲۹۹٥١٤٨٥٦۰۳٤&id=۱٦۹٣٥٤٣٩٦٤٤٧۰۰۱&rdid=oFDknk&mibextid=X٥TKv۹٥N۲itcqZD٦
- 
- د طالبانو امر بالمعروف وزارت، د مرکز د محتسبینو آمریت، ۲۹ جون ۲۰۲۴.
- د طالبانو اسلامي امارت، د چارو د اداري عمومي ریاست، ۲۲۹۹۹ شمېره حکم، تاریخ ۳ جون ۲۰۲۴.
- د طالبانو د امر بالمعروف وزارت، د مرکز د محتسبینو د آمریت خبرتیا، ۲۹ جون ۲۰۲۴.
- د طالبانو د پوهنې وزارت، د بامیانو د پوهنې ریاست، د ښوونکو د روزنې او تعلیماتو آمریت، ۱۵۳۵ شمېره مکتوب، تاریخ ٦ جون ۲۰۲۴.

رواداری
RAWADARI